

# د مین (عاشق) اعترافونه

لیکونکی: دوکتور محمد العریفی

ژبارونکی: ولید خُرم

د کتاب نوم: د مين اعترافونه

ليکونکی: دوکتور محمد بن عبدالرحمن العريفي

ژباړونکی: وليد خُرم

موضوع: اسلامي اخلاق- ټولنيز اخلاق

د ژباړې د بشپړيدو نېټه: اسد (چنګابښ)،۱۴۰۳ هـ.ش کال

سرچينه: د دوکتور محمد العريفي رسمي ويبسايټ (www. Arefe.com)


يادونه: ددې کتاب ډيری برخې د امين عبداللهی له فارسي ترجمې څخه راوړل شوې دي

## بسم الله الرحمن الرحیم

ځانګړې ثنا او ستاینه د هغه خدای (ﷻ) لپاره چې ځان ته د نږدې کسانو زړونه یې په خپلې پیروۍ باندې یو ځای کړل او دومره نیکۍ یې ورپېرزو کړې چې د کرامت مقامونو ته ورسېدل. د هغه ذات حمد او ستاینه کوم چې خپله مینه یې جنت د تلو لاره ګرځولې ده او ګناهکار خلک یې بد ګرځولي دي او غم یې ورپه برخه کړی دی...

ستاینه د هغه خالق وړ ده چې بېلابېلې مینې او محبتونه یې رامنځته کړي دي: د رحمان مینه... د بتانو مینه... د ښځو او ماشومانو مینه... د سندرو مینه... او د قران مینه.

او سلام او درود دې وي زموږ پر پیغمبر محمد (ﷺ) او پر اهل بیت او یارانو یې او.

خوېندو او ورونو، دا د مینو او مینه کوونکو هلکانو او نجونو سره یو څو خبرې دي.

ددې لپاره نه چې زه له هغوی سره تند چلند وکړم او یا یې وډاروم... بلکې د زیري لپاره

خبرې مې د هغو ځوانانو لپاره دي چې ورځې یې د نجونو په تعقیبولو کې تیریږي...

په بازارونو کې او د مکتبونو او پوهنتونونو د دروازو ترڅنګ... همدارنګه یې شپې په موبایل کې په خبرو او عشقي راز او نیاز کې سهار کیږي...

همدا ډول له هغو نجونو سره چې په مینه ناکو نظرونو او زړه وړونکو خبرو باندې دوکه شوې دي او بیکونه یې له رومانتیکو لیکونو او د معشوق له انځورونو څخه ډک شوي دي.

ولې له دې ځوانانو سره خبرې کوم؟

ځکه ډیری ځوانان او نجونې په دې دام کې په ناڅاپي توګه لویدلي دي... په یو نظر باندې یا د یو نامعلومې اړیکې له ټینګیدلو وروسته... او همدا یوه شیبه ددوی د بربادۍ لامل شوې ده او د یو اوږد غم... له کوم ملګري څخه پرته چې له ده سره د زړه خواله وکړي...

هو زه له دوی سره خبرې کوم...

ځکه د مینې د درد نادیده نیول او په هغه باندې اخته کیدل له شک پرته په فواحشو، ګناهونو او حرامو سره پای ته رسیږي او زړونه پر رازونو د باخبر الله تعالی څخه راګرځوي.

هغه خلک څومره زیات دي چې د مینې او عشق فتنې دوزخ ته کشولي دي او دوی ته یې دردناک عذاب ورڅکلی دی...

څومره نعمتونه یې له منځه وړي دي... د څومره مصیبتونو د رامنځته کیدو سبب ګرځیدلې ده...

که له نعمت څخه وپوښتل شي: ته څشي له منځه یوړې؟

او له غمونو او خفګانونو څخه وپوښتل شي: کوم شیان ستاسې د پیدا کیدو سبب شول؟

او له تندرستۍ چې: څه ددې سبب شول تر څو لیرې لاړه شې؟

او له سَتر څخه چې: څه سبب شول چې ته یوې خواته شې؟

او له څیرې څخه: چې ستا نور ولې ورک شو؟

دوی ټول به په یوه خوله داسې ځواب ورکړي:

دا د هغه تیري له کبله چې مینې له خپلو یارانو سره کړی دی... که هغوی لږ فکر درلودلی...

هو... زه له مینې څخه خبرې کوم...

څکه د حرامو اړیکو زیاتیدل یوازې د پکې اخته کسانو په زیان ندي، د خدای د سنت په بنسټ، د زنا په ظهور سره د هغه غوسه زیاتیږي [او ټولې خواوې نیسي]...

عبدالله بن مسعود (رض) فرمایي: «سود او زنا په ښارونو کې نه څرګندیږي مګر کله چې خدای (ﷻ) د هغوی د هلاکت امر وکړي.» او هغه حدیث چې حسن ابن ماجه او نورو راوړی دی، پکې راغلي دي چې د خدای رسول (ﷺ) وفرمایل: « کله چې په یو قوم کې فحشا دود شي – په داسې ډول چې په ښکاره یې ترسره کوي – نو په هغوی کې به طاعون او داسې ناروغۍ زیاتې شي چې د هغوی په تیرو شوو نسلونو کې یې شتون نه درلود.»

داسې نجونې څومره زیاتې دي چې خپلې ځوانۍ یې له لاسه ورکړې او د خپلو کورنیو عزتونه یې تریښو لاندې کړل او یا حتی په ځان وژنو یې لاس پورې کړ، ددې ټولو ترشا یو دلیل و چې مینه (عشق) یې بولي...

شاعر وایي:

په خلکو کې هغه کسان څومره زیات دي چې نظرې ستایل کیږي

خو کله چې په مینه کې ایسار کیږي هغوی بیا احمق شي!

او هغه کسان چې یوه شپه یې د بدبختۍ خوند نه وي څکلی

کله چې مین شي نو بخت یې واوړي!

موږ په داسې زمانه او وخت کې ژوند کوو چې فریب ورکوونکې څیزونه زیات دي، او شهوتونه ډیر...

د فساد اهل په کانالونو او مجلو کې د عقل او پوهې مخاطب کول پریښي ـ او د دوی غریزې او تحریکونه یې خپله موخه ګرځولي دي...

په دې منځ کې، ځوانان او نجونې حیران پاتې دي... د هغو مجلو ترمنځ چې په فریب ورکولو کې دي او هغه کانالونه چې بربنډتوب دودوي او هغه فیلمونه چې ګناه تر نظر ښه راولي او ځوانان ګناه کولو ته زړور کوي...

په نتیجه ځوانان او نجونې له یو بل سره اخته شول او د خپل وړیا وخت او روغتیا فریب یې وخوړ:

(كَلَّآ إِنَّ ٱلْإِنسَـٰنَ لَيَطْغَىٰٓ ۝ أَن رَّءَاهُ ٱسْتَغْنَىٰٓ ۝) [ العلق: ۷-۶]

« ربشتیا ده دا خبره چې انسان خامخا سرکشي کوي (۶) ددې له امله چې کله خپل ځان بې نیازه وګڼي (په مال سره) (۷)»

خو مثلاً که له دوی څخه یو یې فقیر، کمزوری او یا مریض او بې وسې وای هیڅکله به د هغه په مغزونو کې د کوم هلک یا نجلۍ لپاره خالي ځای نه و پیدا شوی...

ظریف مثالونه ددې څرګندونه کوي چې له حد ډیره هوساینه او بیځایه وخت تیرول د دیني سستۍ سریره، انسان دداسې بې ارزښته څیزونو په دام کې اچوي، یو داستان دی چې تاسې ته یې نقل کوم:

یو سړي زموږ په یو ګاونډي هیواد کې چې هلته بې حجابي زیاته ده، ژوند کاوه. هغه شتمن او هوسا و. یوه ورځ یې خپلې زده کړیالې لور له ده څخه وغوښتل چې یو شخصي موټر ورته وپیري. پلار یې لور ته وویل: شخصي موټر( ستا په سن د انجلۍ لپاره) د شر کلي ده او له سړیو سره ستا د زیات اختلاط او تګ راتګ سبب ګرځي. ستا ورور هرځای ته چې وغواړې تا رسوي...

خو لور یې ټینګار وکړ او دومره یې وژړل ترڅو یې پلار شخصي موټر ورته واخیست...

انجلۍ له هغې وروسته څنګه چې یې زړه غوښتل هغسې تګ راتګ کاوه... ترڅو چې یې د اوړي رخصتۍ راورسیدې...

پلار ته یې وویل: غواړم چې خپله د رخصتۍ دا موده د انګلیسي ژبې د زده کړې لپاره په بریتانیا کې تیره کړم!

بیچاره پلار یې وویل: اړتیا نشته...

خو انجلۍ بیا ټینګار وکړ او وې ژړل...

پلار یې غوښتنه وکړه چې ټوله کورنۍ به یې یو ځای هلته ورسره لاړه شي خو انجلۍ قهر شوه او وې وویل: « زه له خپل ځانه ډاډه یم! هیڅ ستونزه نه راته پیښیږي!»

پلار یې ونه منله او نجلۍ د خپلې کوټې ور په ځان پسې وتاړه او خوراک او څښاک یې پریښود ترهغه چې پلار یې د هغې په حال باندې زړه وخوړید... له سترګو یې اوښکې جاري شوې او وې وویل: « راووځه لورې؛ کولی شې چې بریتانیا ته لاړه شې.»

انجلۍ خوشاله شوه او د سفر د بار په تړلو یې شروع وکړه....

پلار یې خپل موبایل رااویست او د یوه ملګري سره یې چې په عربستان کې یې د مکې د ښار په مسیر کې ژوند کاوه، اړیکه ونیوه...

له هغه سره یې تر اړیکې نیولو وروسته وویل: « فلانیه! هغه د ترور زوی مو چې په صحرا کې یې په خیمه کې ژوند کاوه په یاد دی؟»

ملګري یې وویل: هو! هغه تراوسه هم په صحرا کې ژوند کوي او میږې او اوښان څروي. ژوند یې د حیواني غوړیو او قروتو په خرڅولو سره مخکې ځي...

له هغه یې وپوښتل: آیا واده یې کړی دی؟

وېي ویل: نه... هغه ته څوک ښځه ورکوي؟ نه ځای لري او نه استوګنځی! له خپلې خیمې سره چې هرځای ته ولاړ شي همالته استوګن کېږي!

پلار يې وويل: سمه ده... په دوه ورځو کې مکې ته درځم، د سهار چای به له تا سره وڅښم او غوارم هغه د ترور زوی هم ووینم.

وروسته يې خدای پاماني وکړه او موبایل يې کېښود.

پلار خپلې لور ته ورغئ او وېي ویل: « په موټر کې عمرې ته ځو، وروسته به د جدې له هوايي ډګر څخه بریتانیا ته سفر وکړو...»

کله چې روان شول او د مکې نیمايي لارې ته ورسېدل پلار يې د خپل ملګري ښار ته ولاړ او خپلې کورنۍ ته يې وويل: «لږ به د فلاني په کور کې دمه وکړو او د سهار چای به وڅښو او وروسته به خپل سفر ته ادامه ورکړو...»

ښځې له ښځو سره ولاړې او هغه خپله له سړيو سره...

وروسته يې له خپل ملګري سره هاغه د اوښانو او مېږو د شپون سره وکتل او لږ څنډ يې ورسره خبرې وکړې وروسته يې له هغه څخه غوښتنه وکړه چې دده له لور سره واده وکړي!! هغه هم سمدستي ومنله او د نکاح عقد يې جاري کړ...

په دې وخت کې پلار بهر ته راغئ او د نجلۍ سامان او وسایل يې د خپل مېړه په موټر کې کېښودل، وروسته يې خپلې کورنۍ ته غږ وکړ ترڅو بهر راووځي... ښځه او زامن يې بهر راووتل، او په تعقیب يې نازولې نجلۍ چې خپل لاسونه يې د کور له ګرد او دوړو څخه پاکول او د هغه ځای له خزندو او مچانو څخه يې شکایت کاوه له هغه ځای نه رابهر شوه.

کله چې له خپل پلار سره موټر ته وختله، پلار يې د هغې د واده مبارکي ورکړه؛ هغې فکر وکړ چې پلار يې هسې- شوخي ورسره کوي، خو داسې ښکارېدله چې جدي دی، او امر يې وکړ چې له خپل مېړه سره له موټر څخه پلې شي... خو انجلۍ ونه منله او په ژړا يې پیل وکړ...

پلار يې د خپلې لور خاوند ته ورغئ او وېي ویل: « ستا مېرمن له تا سره په تللو شرمېږي... خپله راشه او هغه بوزه...»

خاوند يې هم په خندا او خوشالۍ سره پلی شو او د موټر دروازه يې پرانیسته او نجلۍ يې له خپل ځان سره بوتله او په موټر کې، په داسې حال کې چې د صحرا زړه يې غوځاوه د خپلې نیکبختۍ د خیمې په لور ولاړل او د نازکو تپو په منځ کې پټ شول...

پلار يې په پوره ډول جدي و او وېي کړای شول چې د خپلې مېرمنې په ژړا او زاريو ځان برلاسی کړي او د خپلې کورنۍ له نورو غړو سره بېرته خپل ښار ته ستون شو... يوه اونۍ وروسته يې پلار په مدینه کې له خپل ملګري سره اړیکه ونیوه او ددوی په اړه د نوو خبرونو غوښتونکی شو. ملګري يې وويل: « ښه دي... دوه اونۍ مخکې مې په بازار کې ولیدل...»

ورځې او میاشتې تېرې شوې او پلار يې د موبایل له لارې ددوی د احوال پوښتنه کوله.. ترهغه چې ملګري يې له یو کال څنډ وروسته ورسره اړیکه ونیوه او هغه ته يې زېری ورکړ چې بابا شوی او لور يې زوی زېږولی دی...

له څو میاشتو وروسته یې کورنۍ ددوی لیدو ته لاړه... کله چې ددوی خیمې ته ورسیدل یوه حامله ښځه یې ولیدله چې یو بل وړوکی ماشوم هم ورسره و...

نژدې چې ورغلل وې لیدل چې ددوی لور ده... لور یې ښه راغلاست ورته وویل او خپل خاوند ته یې غږ وکړ... خاوند یې راغئ او هغوی ته یې ښه راغلاست وویل او ددوی میلمه پالنه یې وکړه...

اوس ددې انجلۍ حالت او برخلیک ته وګورئ... او وګورئ چې څنګه د صحرا د سرې سره واده ورته د بریتانیا له تګ څخه غوره و...

البته دا باید ووایم چې د لور واده کول د هغې له رضایت څخه پرته په شرعي ډول روا ندي خو دا کیسه مې د بې ځایه مزو، چړچو او وخت تیرولو او د هغوی د برخلیک او نتیجې لپاره وړاندې کړه.

ای هغو هلکانو او نجونو چې د مینې او عشق په دام کې لویدلي یاست...

عاشقانو او میینو به په تیرو وختونو کې یوازې د خپل محبوب په یادولو او د هغوی په اړه په شعر ویلو بسنه کوله، پرته له دې چې ورسره یوځای شي او یا یې ووینې...

عمرو بن شبه وایي: « که د چا به کومه ښځه خوښیده یو کال به د هغې د کور چارچاپیره ګرځیده؛ ترڅو داسې یو څوک پیدا کړي چې که یې هغه لیدلې وي!»

خو نن ورځ که کوم کس د ښځې عاشق کیږي د هغې سره داسې اړیکه جوړوي ته به وایې چې ابوهریره ددوی د نکاح شاهد و!

ځینې د مینې او میینانو په اړه یو څه اوري او د میینو سره ناسته پاسته کوي او د هغوی داستانونه لولي او داسې حالت ته رسیږي چې ګومان کوي دوی عاشقان (میینان) دي، په داسې حال کې چې داسې نده.

وروسته د خپلې مینې او معشوقې په لټه کې راوځي او د عشق او د زړه د تړاو په هکله وایي، په داسې حال کې چې دوی یې اهل ندي...

لکه څنګه چې وایي یو بادیه اوسیدونکی د یو مسجد ترځنګ تیریده، نو د صالحانو له یوې ډلې سره چې هلته وو او د شپې د عبادت په اړه یې خبرې کولې یوځای شو... هر یوه د عبادت د فضیلت له یو ډول څخه خبرې کولې... یو کس به د لمانځه په اړه خبرې کولې، بل به د استغفار ستاینه...

بادیه اوسیدونکی سړی چوپ و او څه یې نه ویل... دوی هغه ته مخ واړاوه او وې ویل: « ته وله شپه خوب کوې او یا که ته هم راپاځیږې؟

وې ویل: « نه... راپاځیږم»

دوی ورته وویل: « نو بیا څه کار کوې؟»

هغه وویل: «متیازې کوم، بیرته ویده کیږم!!!»

کله ناکله شیطان هلک یا انجلۍ ته دوکه ورکوي چې ښکلی یا جذاب دی/ده او د مقابل لوري هغه ډیر زیات خوښ شوی دی... کله چې په بازار کې په لاره ځي یا په داسې حالت کې چې له ملګرو سره د خبرو او خندا په حالت کې وي، ګمان کوي چې د نورو نظرونه یې ځانته راکاږلي دي او په لاره تیریدونکي خلک د هغه لیونیان ګرځیدلي... او همدا ددې لامل ګرځي چې خپل ځان په خطر کې واقع کړي او ددې امکان ډیریږي چې د شهوتونو څښتنان هغه ته فریب ورکړي او په لومه کې یې واچوي او د خپل شهوت له عملي کیدو او پوره کیدو وروسته هغه پریږدي او په بل ښکار پسې لاړ شي...

خو که یې خپل ځانته درونډ وکتل او دداسې کارونو څخه یې لاس واخیست او په داسې یو څه چې د هغه لپاره پیدا شوي دي خپل ځان بوخت کړي نو خپل دین او عقل به روغ وساتي...

د یوسف علیه السلام حالت ته ځیر شه چې د څه یو حسن او ښایست څښتن و... د فکر څخه لوړ ښایست... هغه څوک چې ده ته یې ورانديز کړی و، ملکه وه او دی یو څښتن لرونکی غلام چې د ملکې خاوند په ناڅیز قیمت سره پیرودلی و ترڅو د هغه خدمت وکړي...

په دې اساس د هغې له رسوایی څخه هم ویره نه وه...

هغه مجرد ځوان چې نفس یې دداسې ښځې غوښتونکی دی... او ښکلې او شتمنه ښځه چې د سرغړولو په صورت کې هغه د زندان او خوارۍ سره مخامخ کوي، او هغه خپل ځان ته رابولي او د تحریک او دوکې لپاره یې هرکار ترسره کوي...

دروازې یې تړلې وې، ښایسته لباس یې په تن کړی و او تخت ته یې زینت ورکړی و او وروسته یې یوسف (ع) ته په ناز او نخرو وویل: «راشه چې زه ستا یم!»

خو هغه پاکلمني علیه السلام داسې ځواب ورکړ:

( مَعَاذَ ٱللَّهِۖ إِنَّهُۥ رَبِّيٓ أَحۡسَنَ مَثۡوَايَۖ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ۝) [یوسف: ۲۳]

« د الله څخه پناه غواړم! بیشکه چې هغه عزیز مالک زما څښتن دی او زما یې څخه یې ساتنه کړې ده نو زه به له هغه سره ولې خیانت کوم؛ بیشکه چې ظالمان نه کامیابیږي.»

د یوسف (ع) په حال ښه فکر وکړه...

کله چې د مصر د عزیز میرمنې، د مشرانو او امیرانو ښځې سره راټولې کړې په غوره میوو او خوراکونو سره یې د هغوی میلمه پالنه وکړه او هرې یوې ته یې یو یو چاقو ورکړ، وروسته یوسف د هغوی له مخې تیر شو...

کله یې چې په هغه سترګې ولګیدې، دهغه په لیدو سره یې صبر ونه شو کړای او د یوسف د زیات ښایست له امله یې خپل عقلونه له لاسه ورکړل او خپل لاسونه یې په چاقوګانو پرې کړل او ویې ویل:

(مَا هَٰذَا بَشَرًا إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا مَلَكٞ كَرِيمٞ۝) [ یوسف: ۳۱]

« دا زلمی انسان نه دی، او نه دی مګر یوه لویه فرښته!»

خو آیا یوسف دوی ته پاملرنه وکړه؟ یا يې د هغوی د ځوانۍ او ښایست دوکه وخوړه؟!

هیڅکله نه! بلکې په لوړ غږ يې وویل:

«پروردګاره! زندان د هغه څه په پرتله چې ما ورته رابولي غوره دی، او که د هغوی مکر له ما څخه لیرې نه کړې هغوی ته به متمایل شم او هغه وخت به له ناپوهانو څخه وم» [یوسف: ۳۳]

او خدای (ﷻ) فرمايي:

« نو پروردګار د هغه دعا قبوله کړه او ددوی له چل او فریب څخه يې خلاص کړ؛ هو، هغه ښه اوریدونکی او ډیر پوه دی» [یوسف: ۳۴]

هو؛ هغه ته زندان له فحشا څخه غوره و... دا له هغه کیسې سره چې د کتاب په پیل کې ذکر شوې ده پرتله کړه...

وایي چې یوه ښځه د یو غزل ویونکي شاعر عمر بن ربیعه ترخنګ تیره شوه او خپلې سترګې يې وموښلې. شاعر داسې فکر وکړ چې هغه ښځه ده ته اشاره کوي نو يې په مینه کې ولوید! او داسې يې شعر يې ووایه:

د خپلې کورنۍ له ډاره يې د سترګي په کونج اشاره وکړه

د غم له کبله یوه اشاره، او څه يې ونه ویل!

او ډاده شوم چې د سترګې یو کونج يې ښه راغلاست وویل

[ زه هم وایم] ښه راغلې د دلبر معشوقې...

دا د حضرت یوسف علیه السلام له کیسې سره پرتله کړئ!

یا د هغه ځوان سره چې د مسجد څخه د راوتو په مهال مې ولید چې زما د موټر ترخنګ ماته انتظار دی... ډیر زیات ډنګر و له الوتي رنګ او ډاروونکې څیرې سره... د هغه په لیدو مې زړه ته ډار ولوید... ومې ویل: څه غواړې؟

وېې ویل: شیخه... ما اراده کړې ترڅو توبه وکړم...

داسې فکر مې وکړ چې که غواړي د مخدره موادو د قاچاق، وژنو او یا غلا څخه توبه وکړي!

ځکه څیره يې همدې کارونو ته پاتې کیده... خو له ده څخه مې پوښتنه وکړه: « له څه نه توبه کوې؟»

هغه وویل: « له دختر بازۍ څخه!»

حیران شوم! خو هغه مې ونه پوهاوه په داسې حال کې چې مې هڅاوه

ورته وویل: « ښه ده... الحمدالله چې تاته يې د توبې توفیق درکړ.»

وېې ویل: « خو یو څه مې نه پریږدي چې توبه وکړم!!»

ومې ویل: «څشی؟»

وېي ویل: « کله چې په بازار کې یم نجونې له ما څخه لاس نه اخلي.. له هرې خوا څخه اشارې راته کوي!!»

په داسې حال کې چې زه ډاډه یم که هغه یوې بوډۍ ته هم نظر وکړي نو اهمیت به ورنکړي!

ددې څوان کیسې ـ ماته د هغه څوان کیسه را په یاد کړه چې د نجونو سره په اړیکو روږدی شوی و...

هغه د موبایل له لارې له یوې نجلۍ سره وپېژندل او د هغې غږ یې خوښ شو او د هغې د لیدو تمه یې وکړه...

هغه او شیطان په همدې ډول هغې نجلۍ ته دوکه ورکړه بلاخره یې وکولای شول د هغې سره په لاره کې ووینې... خو کله چې هغې انجلۍ له خپلې څهرې څخه نقاب لیرې کړ ترڅو هغه ووینې د هغه له بدې څیرې سره مخ شوه او وېي ویل: « له خدایه پناه غواړم! دا څه ډول قواره ده؟!»

انجلۍ وویل: « په اصل کې ترټولو مهم څه اخلاق دي!»

ماشاءالله... دا انجلۍ وایي اخلاق ترهرڅه مهم دي!!! نو آیا دې لارې ته په داخیلیدو سره دې ځانته اخلاق هم پریښې؟!

زما ورونو او خویندو...

د مینې کولو لپاره دلیلونه ډیر دي... ددې امکان شته دداسې یو چا سره مینه ولرې چې د شپې لمونځ کوي او د ورځې روژه نیسي... یا د قران حافظ دی... یا د خدای په لوري دعوت کوونکی...

دا ډول مینه د خدای لپاره ده او ته به د هغې اجر ترلاسه کوې، او هغه کسان چې د خدای لپاره یو بل سره مینه لري د قیامت په ورځ به د نور په منبرونو باندې ولاړ وي چې پیغمبران او شهیدان به په دوی باندې غبطه خوري...

دا د مینې لومړی ډول دی چې له شک پرته به په دنیا او آخرت کې د خپل څښتن لپاره ګټوره وي...

ددې دنیا ګټه یې داده چې د خیر په لاره کې د مرستې او ریښتینې ملګرتیا لامل ګرځي...

خو د آخرت ګټه یې، له نعمتونو څخه په ډکو جنتونو کې یوځای کیدل دي:

(ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ أَعۡظَمُ دَرَجَةً عِندَ ٱللَّهِۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ ◯ يُبَشِّرُهُمۡ رَبُّهُم بِرَحۡمَةٖ مِّنۡهُ وَرِضۡوَٰنٖ وَجَنَّٰتٖ لَّهُمۡ فِيهَا نَعِيمٞ مُّقِيمٌ ◯ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًاۚ إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥٓ أَجۡرٌ عَظِيمٞ ◯ [التوبه: ۲۲-۲۰]

« هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی او هجرت یې کړی دی او د الله په لاره کې یې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد کړی دی، د الله په نزد په درجه کې ترټولو لوی دي، او همدغه کسان کامیاب دي.(۲۰) دوی ته خپل رب له خپل جانب نه د رحمت او رضامندۍ او دداسې جنتونو زیری ورکوي چې ددوی لپاره به په هغو کې همېشنی نعمت وي.(۲۱) په داسې

حـال کې چې پـه هغـو کې بـه تـل ترتلـه او همیشـه وي، بیشـکه الله (چې دی) لـه هغـه سره ډیـر لـوی اجر دی.(۲۲)»

یـا ممکنـه ده چې لـه یـو چـا سره مـو د ښـکلي ځـیرې یـا ښـه غږیـدلو او یـا نـاز او ادا د درلودلـو پـه سـبب مینـه پیـدا شي پرتـه لـه دې چې د هغـه د مصـلحت لـه حالـت څخـه، او د الله تعـالی پـه حق کې د هغه پیروئ ته پام وکړئ...

دا ډول مینـه، د (غـیر الله تعـالی) لپـاره مینـه ده او د خـدای تعـالی څخـه د لـیرې والي سـبب ګرځي...

خدای ج داسې خوشوونکي تهدید کړي او فرمایلي يې دي:

( ٱلۡأَخِلَّآءُ يَوۡمَئِذِۭ بَعۡضُهُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوٌّ إِلَّا ٱلۡمُتَّقِينَ۝ ) [الزخرف: ۶۷]

« پـه دغې ورځ کې بـه دې دنیـا خـواږه یـاران، ددوی ځیـنې بـه د ځینـو نـورو دښـمنان وي.، غـیر لـه متقیانو نه.»

په بل آیت کې فرمایي:

(ٱلۡأَخِلَّآءُ يَوۡمَئِذِۭ بَعۡضُهُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوٌّ إِلَّا ٱلۡمُتَّقِينَ۝ وَيَوۡمَ يَعَضُّ ٱلظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيۡهِ يَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي ٱتَّخَذۡتُ مَعَ ٱلرَّسُولِ سَبِيلٗا۝ يَٰوَيۡلَتَىٰ لَيۡتَنِي لَمۡ أَتَّخِذۡ فُلَانًا خَلِيلٗا۝) [الفرقان: ۲۹-۲۷]

« او یـاد کـړه هغـه ورځ چې ظـالم بـه پـه خپلـو دواړو لاسـونو خولـه لګـوي، پـه داسې حـال کې چې وايي بـه: ای کاشـکې! مـا لـه رسـول سره (نیغـه) لار نیـولې وای.(۲۷) ای زمـا هلاکتـه! کاشـکې مـا فلانـکی سړی دوسـت نـه وی جـوړ کـړی.(۲۸) یقینـا هغـه زه لـه ذکر(قـرآن) څخـه ګمـراه کـړم، کلـه چې هغه (ذکر) ماته راغی او شیطان انسان لره بې مدده پریښودونکی دی.(۲۹)»

بلـکې دغـه خوشـوونکي چې د الله تعـالی د قهـر لپـاره سره یوځـای شـوي دي، د قیامـت پـه ورځ بـه پـه عـذاب بانـدې اختـه شي او دوسـتی بـه يې پـه دښـمنیو واوړي، لکـه څنګـه چې الله تعـالی د ګناهکارانو د یوې ډلې په اړه فرمایلي:

( ثُمَّ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَكۡفُرُ بَعۡضُكُم بِبَعۡضٍ وَيَلۡعَنُ بَعۡضُكُم بَعۡضٗا وَمَأۡوَىٰكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن نَّٰصِرِينَ۝)
[العنکبوت: ۲۵]

« بیا په د قیامت په ورځ بیزاره شي ځینې ستاسې له ځینو نـورو څخه او لعنت به وایي ځینې د ستاسـو ځینـو نـورو تـه او سـتاسې د اسـتوګنې ځـای اور دی او سـتاسې بـه هیڅـوک مرسـته کوونکی نه وي»

هو؛ د هغوی ځای دوزخ دی... نو څنګه به داسې نه وي؟

هغـوی بـه تـل پـه حرامـو کې لـه یـو بـل سره یـو ځـای کیـدل او د مینې او زړه بـایللو پـه اړه بـه يې خبرې کولې...

شهوتونو دوی په لوبو باندې اخته کړل او په خوندونو کې ډوب شول...

هغوی به د قیامت په ورځ هم سره یو ځای کړل شي... خو چیرې؟

په اور کې... هغه اور چې تودوخه يې نه کمیږي او څنډې يې نه ورتوليږي...

( وَمَن يَعْشُ عَن ذِكْرِ ٱلرَّحْمَـٰنِ نُقَيِّضْ لَهُۥ شَيْطَـٰنًا فَهُوَ لَهُۥ قَرِينٌ۝ وَإِنَّهُمْ لَيَصُدُّونَهُمْ عَنِ ٱلسَّبِيلِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُم مُّهْتَدُونَ۝ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَنَا قَالَ يَـٰلَيْتَ بَيْنِى وَبَيْنَكَ بُعْدَ ٱلْمَشْرِقَيْنِ فَبِئْسَ ٱلْقَرِينُ۝ وَلَن يَنفَعَكُمُ ٱلْيَوْمَ إِذ ظَّلَمْتُمْ أَنَّكُمْ فِى ٱلْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ۝) [ الزخرف ۳۹-۳۶]

« او هر څوک چې د رحمان د ذکر (قران) له یادولو څخه سترګې پټوي موږ به په هغه باندې يو شيطان مسلط کړو او هغه به دده دايمي ملګرى وي (۳۶) بيشکه دا شيطانان خپل ملګري له حق لياري څخه هرومرو اړوي او فکر کوي داسې چې پرته له شکه دوى د سمې لياري مونږدونکي دي(۳۷) ترهغې چې موږ ته راشي نو وبه وايي کاشکې زما او ستا په منځ کې له مشرقه تر مغربه لرې والى واى ته ډير بد ملګرى يې (۳۸) او تاسې ته به نن ورځ په دې چې ظلم مو ترسره کړى دى هيڅ ګټه ونه رسوي او تاسې بيشکه په عذاب کې سره شريکان يئ(۳۹)»

په خداى سوګند چې دا يوه لويه فتنه او عظيمه بلا ده... هغه فتنه چې انسانان د خپل خالق د بنده ګۍ پر ځاى د بل څه بنده ګۍ ته هڅوي او زړونه په معشوق روږدي کوي، او همداسې، زړونه په غمونو کې چاپيروي او د فتنو ښکار يې کوي...

ځکه چې عاشق يا مين، د معشوقې مقتول دى او د هغې لپاره يو سرټيټى او خوار غلام دى...

که يې راوغواړي ورته به لبيک ووايي، او که ووايي چې څه غواړې؟ نو خپل معشوق ته رسيدل به يې لوړه هيله وي...[1]

زما خويندو او وروڼو؛

دا مينه حرامه ده... هغه مينه چې محرکه قوه يې د محبوب نيک والى نه بلکې ظاهري ښايست دى، له لويو لاملونو څخه يو يې خرابو فيلمونو ته کتل دي؛ هغه فيلمونه چې په هغې کې ښځې او نارينه ګډ دي، تر هغه ځايه چې په تکرار سره دداسې صحنو ليدل ددې لامل کيږي ترڅو ليدونکى اختلاط (ګډ کيدل) يو عادي څيز وبولي او وروسته د معشوق او معشوقې په لټه کې راووځي...

بده يې لا دا چې په دې فيلمونو کې، مينه او زړه بايلل او لمس کول او ښکلول او داسې نورې صحنې واقع کيږي او د هلکانو او نجونو لخوا دداسې صحنو ليدل د هغوى د پټو غرايضو د بيداره کيدو لامل ګرځي او بلاخره د پټو شيانو د ښکاره کيدو او د حياء د پردې د پرې کيدو او د مصيبت د نږدې والي لامل کيږي...

ځکه هغه کس چې د فسق او فجور صحنې او يې بندو باره منظرې په خپلو سترګو ويني باطن يې د هغوى تقليد ته ميل ښيي... په هرځاى او په هرحالت کې: په بازار کې، د خوب په تخت کې، د کار په ځاى کې... شيطان همداسې هغه د ګناه لور ته کش کاري او هڅوي يې...

د همدې لپاره الله تعالى مومنانو ته له زنا او عورت ساتلو مخکې هغوى ته د حرامو شيانو د ليدو څخه د سترګو په ښکته ساتلو امر کړى دى او فرمايلي يې دي:

( قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا۟ مِنْ أَبْصَـٰرِهِمْ وَيَحْفَظُوا۟ فُرُوجَهُمْ۝) [ النور: ۳۰]

« مومنانو ته ووايه چې خپلې سترګې ښکته وساتي او خپلې شرمګاوې [ له زنا] څخه وساتي.»

---

[1] الجواب الكافي (۴۹۴-۴۹۶)

او په صحیحینو کې روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: « سترګې د زنا لامل کیږي او د هغوی زنا د حرامو په لور کتل دي.»

هغه (ص) د حرامو په لور نظر کول د زنا له ډولونو څخه یو ډول ګڼي چې ترسره کوونکی یې ګناهکاریږي.

همدارنګه د هلکانو او نجونو په مجلسونو کې د مینې او عاشقۍ په هکله ډیرې خبرې اترې او همداسې په ښوونځیو او پوهنتونونو کې، نفسونه د هغوی لور ته ورکاږي، ترهغه ځایه چې یو پاکلمنی کس چې ځان یې له دې ډول کارونو څخه لیرې ساتلی وي داسې فکر کوي چې د هغوی په منځ کې یوازې او پردی دی او د ملګري او ملګرې په لټه باندې شروع کوي.

د همدې لپاره د هوښیارانو لپاره غوره داده چې دداسې مجلسونو او ناستو څخه لرې والی وکړي... هغه ناستې او مجلسونه چې فرښتې پکې ګډون نه کوي او د څښتن تعالی د رحمت څخه لیرې وي، بلکې برعکس، د قیامت په ورځ د حسرت او پښیمانۍ لور ته یې د ګډون کوونکو لاره ده...

په دا ډول مینه کې د ورښکیلیدو یو بل لامل ترانو او سندرو ته غوږ نیول دي... هو، هغه سندرې چې الله پاک له اووم آسمان څخه حرامې کړې دي او فرمایلي یې دي:

( وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشۡتَرِي لَهۡوَ ٱلۡحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ بِغَيۡرِعِلۡمٍ ۝) [لقمان-۶]

« او ځینې خلک داسې دي چې بیځایه خبرې رانیسي- څو نور خلک بې له هیڅ علمه د خدای له لارې ګمراه کړي.»

سندرې د ګناه غږ دی او د قران دښمن...

همدارنګه کولی شو هغوی ته د شیطان د ساز نوم ورکړو چې په هغې سره خپل ملګري جادو کوي، الله تعالی فرمایي:

(وَٱسۡتَفۡزِزۡ مَنِ ٱسۡتَطَعۡتَ مِنۡهُم بِصَوۡتِكَ وَأَجۡلِبۡ عَلَيۡهِم بِخَيۡلِكَ وَرَجِلِكَ ۝) [ الاسراء: ۶۴]

« او د هغوی څخه د چې په هریو وکولای شې په خپل غږ یې تحریک کړه او په خپلو سپرو او پیاده په هغوی حمله وکړه»

ابن مسعود (رض) فرمایي: « سندرې، د زنا وسیله او لاره ده.» عجیبه ده!

ابن مسعود (رض) په داسې یو وخت کې دا خبره کړې ده چې وینځو سندرې ویلې...

هغه وخت چې سندرې او ترانې په دایره او فصیحه عربي ژبه ویل کیدې... ددې سندرو په باره کې ویل شوي دي چې زنا ته د ورتګ لاره ده!

که یې زموږ زمانه لیدلې وای نو څه به یې ویل! څه به ویل چې د سندرو سبکونه رنګارنګ شوي دي او د شیطان یاران ډیر شوي دي او کار دې ځای ته رسیدلی چې غږ یې په موټر، الوتکه، اوبو او وچه کې اوریدل کیږي؟!

موضوع یې هم له مینې او زړه بایللو پرته بل څه ندي... مینه او سرخوږی!

د خدای لپاره ووایئ... آیا تراوسه مو اوریدلي دي چې یو سندره ویونکی د زنا او سترګو د ښکته ساتلو په هکله سندره وبولي؟

یا د مسلمانانو د ناموس او عزت د ساتلو په هکله؟!

هیڅکله نه! داسې یو څه مو له دوی څخه ندي اوریدلي... څکه هر لوبې چې کوم څه په خپل منځ کې ولري همغه ترینه راوځي... د سندرې ویونکي زړه له شهوتونو څخه ډک شوی وي او نفس یې په خوندونو روږدی شوی وي، وروسته له هغه چې څه په ځان کې لري هغه خپروي...

د مینې یو بل لامل چې غالبا د فحشا لامل ګرځي په کورونو کې د خدمت کارانو سره د اړیکو په اړه دقت نه کول دي، یا له هغوی سره د کورنۍ د غړو د نشتون په وخت کې خلوت کول دي...

او « ښځه او نر له یو بل سره خلوت نشي کولی مګر دریم یې شیطان وي.»

همداسې له انټرنټ څخه په آسانه توګه استفاده کول او هغه خبرې اترې چې له دې لارې څخه د نجونو او هلکانو ترمنځ کیږي چې شاید غږیزو او انځوریزو راکړو ورکړو ته هم ورسیږي، یا د ایمیل له لارې د شخصي عکسونو لیږل...

له بده مرغه ځینې کورنۍ له هیڅ قید او شرط پرته خپلو اولادونو ته انټرنټ په واک کې ورکوي او پدې نه پوهیږي چې په هغه کې څه روان دي...

د عشق او مینې یو بل لامل د مینې د کیسو او داستانونو لوستل دي...

عاشقو او مینو نجونو او هلکانو!

ځینې داسې ګومان کوي چې د عشق په لومه کې ددوی لویدل د مخنیوي او کنټرول وړ کار نه دی او له هغه څخه د خلاصون هیڅ لاره نشته، لکه چې ددوی شاعر وایې:

«ما د سلما د مینې له امله ملامتوي او فکر کوي چې زما د زړه بایلل عمدي دي

په داسې حال کې چې هغه مینه چې په ما کې دننه پرته ده د خدای لخوا یوه بلا ده چې خپل بنده ګان پرې آزمایښت کوي»

حتی کله مې چې دا موضوع مطرح کړه له مینو څخه یوه یې ماته لیک راواستاوه او زه یې ملامت کړم او هغه بیتونه چې یې د مینې په هکله لیکلي وو راواستول...

خو ددوی دغه دعوه چې مینه له ارادې څخه پرته ددوی زړونه نیولي دي باطله ده... بلکې حقیقت دادی چې دوی په خپله مینه او عشق ځانته رابللي دي او هغه ته درسیدو لپاره یې سیالي په لار اچولې ده او هغه یې د خپل ځان لپاره داسې یوه موخه او هیله ګرځولې ده چې په هغې کې بند پاتې کیږي...

حتی کله ناکله خو نجلۍ یا هلک داسې یوه تیروتنه کوي چې په یوه بله لویه او عظیمه ناروغۍ کې دننه کیږي او هغه داسې چې هلک په هلک او یا نجلۍ په نجلۍ زړه بایلي!

ددې اړیکې ظاهر پاک او سالم دی خو دننه بیا داسې نده...

کيداى شي ځينې کسان پر ما نيوکه وکړي او ووايي: ته غوارې په موږ سختي وکړې، زه يوازې له هغه/هغې سره خبرې کوم او ورته ګورم چې دا ټوله يوه پاکه اړيکه ده!

لکه څنګه چې يو له دې مينه کوونکو څخه په يوه اوږده ليک کې د معشوقې سره خپله ستونزه ماته ليکلې وه، هغه په يو ځاى کې ليکلي وو:

« شيخه په خداى سوګند، زه هغه په خپل موټر کې کينوم او هلته ډير ساعتونه له يو بل سره وو او په خداى سوګند داسې يو څه چې د الله تعالى د قهر لامل ګرځي زموږ په منځ کې نه پيښيږي يوازې په درناوي د يو بل ښکلول زموږ په منځ کې پيښيږي!!»

زه نه پوهيږم چې په درناوي د ښکلولو معنا څه ده! ښايي د حجاب له امله به وي!!

بيچاره په دې باندې نه پوهيږي چې همدا يوازې والى ددوى ترمنځ حرام دى او « ښځه او نارينه له يو بل سره خلوت نه کوي مګر دريم يې شيطان وي»

او په صحيحينو کې روايت دى چې رسول الله (ﷺ) وفرمايل:« په ښځو باندې له ورننوتو څخه وډار شئ» يعني له دوى سره له خلوت او يوازې والي نه.

خداى (ﷻ) ښځو ته فرمايلي دي چې ځانونه وپوښي څو نارينه دوى ونه ويني او فرمايلي يې دي:

( يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّأَزۡوَٰجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَآءِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ يُدۡنِينَ عَلَيۡهِنَّ مِن جَلَٰبِيبِهِنَّۚ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن يُعۡرَفۡنَ فَلَا يُؤۡذَيۡنَۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا۝) [الاحزاب: ٥٩]

« اى پيغمبره! خپلو ښځو او خپلو لونو او د مومنانو ښځو ته ووايه چې په خپلو ځانونو دې له خپلو څادرونو نه را خواره کړي، دغه د بدن پټول ډير نږدې دي دې ته چې دوى به وپيژندل شي نو دوى ته به تکليف نه رسول کيږي او الله تعالى ډير بښونکى او بې حده رحم کوونکى دى»

حتى الله تعالى صحابه له ښځو سره له خلوت او يوازيتوب منع کړي او فرمايلي يې دي: « که له دوى څخه مو څه وغوښتل» يعنى د پيغمبر له ميرمنو څخه چې له ټولو پاکې ښځې دي « نو د حجاب ترشا يې له هغوى څخه وغواړئ»... ولې؟

« دا ستاسو او د هغوى د زړونو لپاره ډيره پاکې ده»...

د صحابه وو طاعت، ډار او عبادت په نظر کې ونيسئ!

پردې بنسټ، زموږ د ننيو ځوانانو او نجونو حالت بايد څنګه وي؟ هغه هم په داسې فساد کې چې زموږ په وخت کې شتون لري؟!

نن ورځ څنګه هلک له نجلۍ سره خلوت کوي او وايي چې دا يوه پاکه ملګرتيا ده؟!

جالبه ده!

سفيان ثوري خپل صالح ملګري ته وويل: « هيڅکله له ښځې سره خلوت مه کوه حتى د قرانکريم د زده کړې لپاره»

هو خويندو او ورونو... دا زموږ دين دى او په دې هکله ټوکې نه کوي...

زه به د حرامې مينې (چې د عاطفي اړيکو په بنسټ جوړيږي) او د عامې مينې په هکله يو څو اصول وړاندې کړم ترڅو زموږ ځوانان او نجونې يې په توپير باندې پوه شي:

عاشق/میین د خپلې معشوقې دين او نيکۍ ته ارزښت نه ورکوي، که پاملرنه هم ورته وکړي، ظاهري به وي، ترڅو خپل ځان له ملامتۍ څخه وژغوري.

د معشوق ترټولو مهم څه ورته د هغه حرکتونه او کتل دي...

حتی د معشوق سره د موافقې لپاره هم احتمال لري ځان ګمراه يا په ګناه کې واقع کړي...

لکه څنګه چې د زړه بايلونکو څخه يو يې چې د يوې ښځې د مينې په دام کې لويدلی و داسې ويل:

که اسلام راوړې موږ هم اسلام راوړو او که نصراني شې نو خلک به د خپلو سترګو ترمنځ صليبونه راوځړوي.

او يا همدا مين وينې چې په مجلس کې د معشوقې په شتون باندې ډيره خوشاله ښکاري او ډيرې خبرې کوي او خاندي او داسې هڅه کوي ترڅو توجه ځانته راواړوي...

او حتی هڅه کوي چې تل د هغې سره په څنګ کې کښيني او يو ځای په لار ورسره ولاړ شي په داسې حال کې چې د هغې لاس يې په لاس کې نيولی وي...

همداسې خوښوي چې په پرلپسې ډول هغې ته وګوري او د هغې څخه خپلې سترګې وانهړوي او د هغې په هکله ډير غيرتي دی او که هغه يې له کوم بل چا سره وليده نو سينه يې پرې تنګيږي او داسې احساس کوي چې په شخصي حريم يې تيری شوی دی.

عاشق/میین د خپل معشوق د ليرې والی صبر نه لري... يا خو يې بايد هره ورځ ووينې او که نه وي ټيليفوني اړيکه ورسره ټينګه کړي يا يې انځور ته وګوري او يا يې هم ليکونه ولولي...

پر دې بنسټ که هر څوک ددې نښو څخه رنځ وړي نو ژر تر ژره بايد د خپل درملنې په اړه تصميم ونيسي ځکه هغه ناروغ دی...

ای هغه کسانو چې ما وينئ زما درد او خوږ ډيريږي

او طبيب يې د علاج څخه ناتوانه دی

حيرانيږئ مه

ځکه سترګې په دې ډول د زړه په حق کې تيری کوي!

ددې لومړی لامل او هغه لوی مصيبت او درد چې انسان په داسې يوې ناروغۍ اخته کوي څه دی؟!

لومړی لامل يې په زهرو ککړ غشی دی... هغه جنايت چې سترګې يې ترسره کوي...

د ټولو پيښو پيل له سترګو څخه کيږي

او لوی اور له کوچنۍ جرقې څخه جوړيږي

داسې کتل څومره زيات دي چې د خپل څښتن زړه يې

له لیندۍ پرته په غشي باندې زخمي کړی دی

او ترڅو پورې چې د انسان سترګې د نجونو او ښځو د سترګو په لوري په حرکت کې وي تر خطر لاندې دی.

سترګې یې دداسې څه په لیدو خوشاله دي چې پای یې تاوان دی

زه هغې خوشالۍ ته ښه راغلاست نه وایم چې په آخر کې یې تاوان وي

هو، دا ټول د سترګو جنایت او تیری دی...

او دا د الله تعالی د دغه امر څخه تیری دی چې وایي: « او مومنانو ته ووایه چې خپلې سترګې او نظرونه ښکته واچوي او خپلې شرمګاوې وساتي، داد دوی لپاره پاکې ده.»

او د الله تعالی دغه امر د مومنو ښځو لپاره چې: « او مومنو ښځو ته ووایه چې خپلې سترګې او نظرونه ښکته واچوي او خپلې شرمګاوې وساتي.»

همدارنګه هر ښکلي ته، په پرله پسې ډول ګورې

او داسې فکر کوې چې دغه کتل ستا د زړه دارو دي

خو په حقیقت کې د یو زخم پرځای بل زخم جوړول دي

هو، دې شخص خپل زړه ټپي کړی دی...

د بلا دروازه یې په یو وارې کتلو سره خلاصه کړه

او چې زړه یې له هغه څخه د زماني حسرت واخیست

په الله سوګند چې ته نه پوهیږې چې څه بلا د په خپل زړه باندې راوستې ده؟

یا یې هم وژلی دی او خپله هم نه پوهیږي؟!

ابن قیم (رح) وایي: « کله چې الله تعالی په سترګو ښکته اچولو باندې امر وکړ، وروسته یې د شرمګاه د ساتنې امر وکړ ترڅو دا په ډاګه کړي چې که هرڅوک خپلې سترګې او نظر آزاد پریږدي، هغه به د خپلې شرمګاه د آزادولو خواته کش کړي...»

هو؛ زما خویندو او ورونو...

په یو حدیث کې چې حاکم تخریج کړی دی او هغه یې صحیح بللی دی راغلي دي: « کتل د شیطان د مسمومو غشو څخه یو غشی- دی؛ نو که هرڅوک د الله تعالی له ډاره هغه پریږدي، خدای (ﷻ) به د هغه په بدل کې داسې یو ایمان ورېښي- چې خوږوالی به یې په زړه کې احساس کړي.»

او په صحیحینو کې راغلي دي چې رسول الله (ﷺ) وفرمایل: «خدای (ﷻ) انسان ته د زنا څخه هغه ته خپله برخه لیکلې ده چې له شک پرته به هغه درک کوي... نو د سترګو زنا، کتل دي او د ژبې زنا خبرې کول دي او نفس هم هیله او میل کوي او شرمګاه هم هغه تصدیق او یا تکذیب کوي.»

فکر وکړه چې څنګه یې په سترګو سره پیل وکړ او په شرمګاه یې پای ته ورسوله ترڅو وښیي چې د سترګو آزاد پریښودل، د زنا په لور یوه لاره ده...

ابن قیم وايي: « هغه څه چې ستا ذهن ته لویدلي دي له ذهن څخه یې وباسه کنه بیا په اندیښینه بدلیږي»

ریښتیا یې ویلي، الله د رحمت ورته وکړي...

څکه انسان که د لومړي غشي- په اړه چې کنټل دي بې پروايي وکړي، دوهم غشی- چې د زړه نظر دی په هغه باندې لګیږي او بیا د هماغه موضوع په اړه فکر کوي او هیله یې په زړه کې ساتي...

وروسته بیا شیطان ځان شکیلوي او هغه هیله شکلي کوي او هغه ته وسوسه وراچوي او وايي: دغه کار وکړه او بیا توبه وکړه... ټول ځوانان دا ډول کارونه ترسره کوي... له خپل ژوند څخه خوند واخله!

په پای کې اندیښینه په تصمیم او اراده بدلیږي... وروسته بیا په نقشه کښلو باندې پیل کوي او که یې مخه ونه نیسي- هغه بیا ترسره کوي او کله چې یې د خپل پروردګار او ځان ترمنځ پرده پرې کړه، ګناه ورته آسانه کیږي او په خوی او عادت یې بدلیږي.

خو که له هماغه لومړیو څخه الله تعالی ته پناه یوسي او د یوسف (ع) په څیر خپل نفس ته چیغې وکړي چې: « الله ته پناه وړم!...» [ نو په دغه عاقبت به اخته نشي.]

داد پرهیزګاره او نیکو خلکو حال دی...

( إِنَّ ٱلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ إِذَا مَسَّهُمۡ طَٰٓئِفٌ مِّنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ تَذَكَّرُواْ فَإِذَا هُم مُّبۡصِرُونَ۝ وَإِخۡوَٰنُهُمۡ يَمُدُّونَهُمۡ فِي ٱلۡغَيِّ ثُمَّ لَا يُقۡصِرُونَ۝) [الاعراف: ۲۰۲-۲۰۱]

« بیشکه هغه کسان چې له الله څخه ویریږي کله چې دوی ته د شیطان له طرفه کومه وسوسه ورسیږي نو دوی د الله حکم یاد کړي نو ناڅاپه دوی لیدونکي وي(۲۰۱) او ددوی وروڼه (شیطانان) له دغه کفارو سره په ګمراهۍ کې مرسته کوي او بیا دوی تقصیر نه کوي»

د شهوتونو د لیدلو لپاره د سترګو آزاد پریښودل د بد پای لپاره یو لامل دی؛

آیا د هغه کس په اړه مو اوریدلي دي چې د مرګ په وخت کې ورته وویل شول چې « لا اله الله » ووایه، نو یې په د ویلو شروع وکړه « د منجاب حمام لاره کومه ده؟»

کیسه یې داسې ده چې یوه ورځ خپل کور ته مخامخ ولاړ و، د کور دروازه یې د منجاب د حمام په څیر وه په دې وخت کې یې ترڅنګ یوه شکلې نجلۍ تیریده؛ له هغه یې وپوښتل: « د منجاب د حمام لاره کومه یوه ده؟»

هغه سړي د خپل کور دروازې ته اشاره وکړه او ویې ویل: دغه د منجاب حمام دی!

انجلۍ کور ته ننوته او سړی په هغې پسې... څنګه چې پوه شوه چې دا ددې سړي کور دی او هغه دا دوکه کړې ده نو په ظاهره یې په داسې توګه چې له هغه سره ده، خپله خوشالي څرګنده کړه او له ځان سره یې وویل: له ده سره به هم فریب وکړم ښايي ترینه بیغمه شم، او

په ګناه کې به هم واقع نشم؛ نو یې هغه ته وویل: « څومره به ښه وای چې د عیش او سترګو د روښنایۍ وسیلو هم دلته شتون درلودلی!»

سړي ورته وویل: « همدا اوس چې څه وغواړې درته به یې راوړم.»

وروسته له کور څخه بهر شو خو دروازه یې بنده نه کړه او هرڅه چې ورته پکار وو هغه یې چمتو کړل او بیرته راغئ، خو ویې لیدل چې هغه انجلۍ تللې ده! حیران پاتې شو له هغه وروسته به یې د هغې ډیر یادونه کول او پداسې حال کې چې په لاره به روان وو دا به یې ویل:

اې هغه ورځ چې ډیره ستړې وې او ودې ویل چې د منجاب د حمام لاره کومه ده...

او په همدې حال کې چې دا بیتونه یې ویل خدمتګارې یې په څواب کې ورته وویل:

هغه وخت دې چې په لاس درغلې وه څه به شوي وای چې دروازه دې بنده او یا قلف کړې وای؟!

ددې په اوریدو سره یې خفګان نور هم زیات شو او همدا بیت به یې په بیا بیا وایه ترڅو چې یې ساه ورکړه...

ابن قیم وایي: یوه سړي ته د مرګ په حالت کې وویل شول: لا اله الا الله ووایه.

نو هغه په لوړ غږ سره وویل: اې د ناروغانو آرامښته زه تسلیمیږم او اې د مرګ د ناروغ شفا...

ستا مینه زما د پروردګار له رحمت څخه هم زما زړه ته غوره ده!

ابن قیم د هغه داستان داسې بیانوي او وایي: هغه یو ځوان و چې ډیر سخت د چا سره په مینه اخته شوی و او هغې ته یې خپل زړه ورکړی و تر هغې چې هغه په همدې سبب ناروغ شو او په کټ کې پریووت... خو مقابل کس به له هغه څخه ځان لیرې ساته او وروسته له هغه څخه بیخي په تیښته شوه... واسطو په پرله پسې ډول د هغوی په منځ کې تګ راتګ کاوه ترهغه چې معشوق ومنله چې د هغه پوښتنې ته ورشي. دا خبر یې هغه بیچاره ته ورساوه او ډیر خوشاله شو او قهر ورځخه لیرې شو او ورته منتظر شو په همدې حال کې ددوی ترمنځ واسطه راورسیده او ویې ویل: هغه له ما سره تر نیمایي لارې راغله خو بیرته لاړه. هغه مې راتلو ته وهڅوله او په دې اړه مې خبرې ورسره وکړې خو ویې ویل: « هغه زه په داسې او هسې- نومونو یاده کړې یم او زه هیڅکله په داسې څه کې چې شک وي نه داخلیږم او خپل ځان تهمت ته نه سپارم» هرڅومره چې مې کوښښ وکړ ویې نه منله او بیرته لاړه...

کله چې هغه بیچاره دا واوریدل حالت یې نور هم خراب شو او د مرګ نښې- نښانې پرې راڅرګندې شوې او په همدې حالت کې یې داسې ویل: زه تسلیمیږم اې د ناروغانو آرامښته او اې د مرګي د ناروغ شفا...

ستا مینه زما د زړه لپاره د الله تعالی له رحمت څخه هم غوره ده!

نو مې هغه ته وویل: فلانیه؛ له خدایه وډار شه!

ویې ویل: همداسې ده...

په همدې حال کې زه هغه ښځه راپورته شوم خو د کور دروازې ته نه وم رسیدلی چې د ژړا او چیغو غږونه مې واوریدل... د بد برخلیک او پای ښځه الله (ﷻ) ته پناه وروړم...

د همدې لپاره ددې امت سلف سترګې او نظرونه ښکته اچول او دا یې ترخپلې اندازې پورې یو حیرانوونکی کار و...

هو دوی هم سترګې او غریزه درلوده او نفسونو یې د خوندونو په لوري میل درلود...

خو له دې سره... هغوی له داسې ورځې ډاریدل چې په هغې کې زړونه او سترګې سره ښکته او پورته شي...

څوک چې د لومړي ځل کتلو په هکله بې پروایي وکړي او ژر خپله درملنه ونه کړي په یو لوی مصیبت یعنې د زړه تراو باندې اخته کیږي او کله چې محبوب په زړه کې کیناست، مین او عاشق نو بیا هرڅه چې له هغه ښځه وینې خوښوي یې او حرکتونه به یې ورته خوندور تمامیږي او خندا به یې د خوښۍ لامل ګرځي...

موسکا به یې هغه فتنې ته هڅوي او د هغه له نږدیوالي سره عادت کیږي، او نور هرڅه چې معشوق یې ترسره کوي که څه هم بد وي هغه ته ښه ښکاره کیږي... لکه څنګه چې وایي یو سړی د یوې توریوستې ښځې عاشق (مین) شو نو چې کله یې مینې د هغه زړه ته لاره موندله هرې تیارې به هغه ده ته وریادوله او په تیارې مین شوی و. وایي چې ددې په هکله به یې داسې ویل:

تور سپیان مې د هغې د مینې له کبله خوښیږي، او د هغې پخاطر په هر تور څیز باندې مین یم!

هرڅوک چې د کتلو او لیدلو په اړه بې پروایي کوي په دې دوو خطرونو کې لویږي:

د ښځو مینه یا د تنکیو ځوانانو مینه... او دا د الله تعالی له پیروۍ ځخه شیطاني وسوسو ته د هغه د وګرځیدو لامل ګرځي...

او شیطان په پرله پسې ډول دې عاشق (مین) ته فریب ورکوي ترڅو یې چې فحشا ته نه وي غورځولی؛ له الله تعالی ځخه پناه غواړو...

الله تعالی ددې فحشاء ګناه ډیره لویه ګرځولې ده او هغه یې د شرک او قتل سره یوځای ذکر کړې ده او فرمایلي یې دي:

﴿ وَٱلَّذِينَ لَا يَدۡعُونَ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ وَلَا يَقۡتُلُونَ ٱلنَّفۡسَ ٱلَّتِي حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَلَا يَزۡنُونَ ﴾ [الفرقان: ۶۸]

« او د رحمان بنده ګان هغه کسان دي چې له هغه سره بل معبود نه بولي او هغه نفس چې الله تعالی حرام کړی دی نه یې وژني مګر په حق سره او دوی زنا نه کوي »

وروسته الله تعالی د هغه چا عذاب چې دا کار ترسره کوي ذکر کړی او فرمایلي یې دي:

﴿ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ يَلۡقَ أَثَامًا ۝ يُضَٰعَفۡ لَهُ ٱلۡعَذَابُ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَيَخۡلُدۡ فِيهِۦ مُهَانًا ۝ ﴾ [الفرقان:۶۹-۶۸]

« او هـر چـا چې زنـا وکـړه دوی بـه خپلـه جـزا وویـني(۶۸) او دوه برابـره بـه شي ده تـه عـذاب د قيامـت پـه ورځ او تـل بـه پـه دغـه عـذاب کې پـاتې وي پـه داسې حـال کې چې خـوار او ذليـل بـه وي(۶۹)»

وروسته هغه مهربان او کريم ذات، خپل بنده ګان د رحمت لوري ته رابولي او فرمايي:

(إِلَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَـٰلِحًا فَأُوْلَـٰٓئِكَ يُبَدِّلُ ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِهِمْ حَسَنَـٰتٍۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا۝ وَمَن تَابَ وَعَمِلَ صَـٰلِحًا فَإِنَّهُۥ يَتُوبُ إِلَى ٱللَّهِ مَتَابًا۝) [الفرقان: ۷۱-۷۰]

« مګـر هغـه چې توبـه يې وويسـته او ايمـان يې راوړ او عمـل يې وکـړ نيـک نـو الله تعـالی بـه ددوی ګناهونـه پـه نيکيـو بـدل کـړي او الله تعـالی ښـه مغفـرت کـوونکی او د ډيـر رحـم والا دی(۷۰) او هرڅـوک چې توبـه وباسي او نيک عمـل وکـړي نـو بيشـکه چې دی بـه د الله تعـالی پـه طـرف غـوره رجوع کوي(۷۱)»

همدارنګـه رسـول الله (ﷺ) لـه زناکـار څخـه ايمـان نـفی کـړی دی، لکـه څنګـه چې پـه صـحيحينو کې راغلي دي چې وېې فرمايل: « زناکار د زنا په حالت کې مومن نه دی.»

او د زنا لار ترټولو بده لاره ده، دهمدې لپاره څښتن تعالی فرمايي:

(وَلَا تَقْرَبُواْ ٱلزِّنَىٰٓۖ إِنَّهُۥ كَانَ فَـٰحِشَةً وَسَآءَ سَبِيلًا۝) [الاسراء:۳۲]

« او زنا ته مه نږدې کيږئ بيشکه چې زنا قبيحه ده او دا زنا د روېې له پلوه هم بده ده»

بخـاري روايـت کـړی دی چې دوه کسـان د رسـول الله (ﷺ) خـوب تـه راغلـل او دوی هغـه لـه ځان سره يووړ...

نـو هغـه د ګناهکـارانو پـه عـذابونو بانـدې خـبر ترلاسـه کـړ. د خـدای پيغمـبر د حـديث پـه يـوه برخـه کې فرمـايي: «پـه لاره روان شـوو نـو د تنـور غونـدې يـو شي ترڅنـګ تـير شـوو چې پـه هغـه کې ډيـر شـور او ځـوږ و؛ د هغـه منـځ تـه مـو وکتـل او لـوڅې ښـځې او نارينـه مـو وليـدل چې لانـدې يې د اورونـو لمبې پورتـه کيـدې، او کلـه بـه چې لمبې پورتـه شـوې دوی بـه چـيغې وهـلې» کلـه چې پيغمـبر (ﷺ) ددوی دا حالـت وليـد ددوی لـه حالـت څخـه پـه ډار کې شـو او لـه جبراييـل (ع) څخـه يې ددوی په هکله پوښتنه وکړه... جبراييل وفرمايل: «هغوی زناکار نارينه او ښځې دي»

او د خزيمـه څخـه پـه صـحيح سـند روايـت شـوی چې هغـه (ﷺ) وفرمايـل: «وروسـته بيـا پـه لاره روان شـوو؛ يـو ناڅاپـه مـو داسې يـوه ډلـه وليدلـه چې نسـونو يې بـاد کـړی و او بـد بـوی ترينـه پورتـه کيـده، لکـه د بيـت الخـلا داسې بـوی ورسره وو؛ ومې ويـل چې دا کـوم کسـان دي؟ وېې ويـل: « دا زناکار نارينه او ښځې دي»

هيـتمي وايي: « پـه زبـور کې ليکـل شـوي دي چې زناکـاران بـه لـه خپلـو شرمګـاوو څخـه پـه اور کې ځوړنـد کـيږي او د اوسـپنې څخـه پـه جـوړو شـوو درو بانـدې بـه وهـل کـيږي او کـه څـوک لـه وهلـو څخـه شـکايت وکـړي ملايکې بـه وايي: دغـه غـږ هغـه وخـت چيرتـه و چې خنـدا او خوشـالي بـه مـو کولـه او خوشـاله بـه ګرځيـدئ او الله تعـالی مـو خپـل سـاتونکی نـه ګڼلـه او ورڅخـه نـه شرميدئ؟!»

همدارنګه په صحیحینو کې د پیغمبر (ﷺ) دخطبې په یوه برخه کې د کسوف د لمانځه په اړه راغلي چې هغه وفرمایل: «اې د محمد امته... په الله قسم چې له خدای تعالی څخه ډیرغیرت څوک نه لري چې بنده یا خدمتګار یې زنا وکړي... ای د محمد امته په خدای قسم که په هغه څه چې زه پوهیږم تاسې پوهیدلئ لږ به مو خندل او ډیر به مو ژړل»

هو هغه تیریدونکي نعمتونه څومره زیات دي چې په پای کې لوی غمونه او عذابونه له ځان سره لري...

( أَمْ يَحْسَبُونَ أَنَّا لَا نَسْمَعُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَىٰهُم ۚ بَلَىٰ وَرُسُلُنَا لَدَيْهِمْ يَكْتُبُونَ◯) [الزخرف: ۸۰]

« آیا ګمان کوي چې موږ ددوی پټې خبرې او پټې مشورې نه اورو بلکې اورو یې او زموږ رسولان له دوی سره دي(۸۰)»

پردې بنسټ له شرک او قتل څخه وروسته له زنا څخه بل لوی فساد نشته... او که انسان ته خبر ورکړي چې لور د وفات شوې ده دا هغه ته ترډې آسانه تمامیږي چې ورته ووایي زنا یې کړې ده...

نو په زنا د ننګ وي چې آثار او خبر یې دومره بد دي، او داسې خوندونه څومره زیات دي چې خوند یې تللی او حسرت یې پاتې شوی دی...

لومړنی کس چې د زناکارو ښځو او نارینه وو په وړاندې به شاهدي ورکوي د هغه د بدن هغه غړي دي چې له زنا څخه یې خوند اخیستی...

پښې- چې تګ یې پرې کړی دی او هغه لاس چې لمس یې پرې کړی دی او هغه ژبه چې د ګناه په وخت کې یې پرې خبرې کړې دي.

بلکه د هغه د بدن د پوست تولې ذرې او د بدن ټول ویښتان به د هغه په وړاندې شهادت ورکوي...

خدای تعالی فرمایي: (وَيَوْمَ يُحْشَرُ أَعْدَآءُ ٱللَّهِ إِلَى ٱلنَّارِ فَهُمْ يُوزَعُونَ◯ حَتَّىٰٓ إِذَا مَا جَآءُوهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ وَأَبْصَـٰرُهُمْ وَجُلُودُهُم بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ◯ وَقَالُوا۟ لِجُلُودِهِمْ لِمَ شَهِدتُّمْ عَلَيْنَا ۖ قَالُوٓا۟ أَنطَقَنَا ٱللَّهُ ٱلَّذِىٓ أَنطَقَ كُلَّ شَىْءٍ وَهُوَ خَلَقَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ◯ وَمَا كُنتُمْ تَسْتَتِرُونَ أَن يَشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَآ أَبْصَـٰرُكُمْ وَلَا جُلُودُكُمْ وَلَـٰكِن ظَنَنتُمْ أَنَّ ٱللَّهَ لَا يَعْلَمُ كَثِيرًا مِّمَّا تَعْمَلُونَ◯ وَذَٰلِكُمْ ظَنُّكُمُ ٱلَّذِى ظَنَنتُم بِرَبِّكُمْ أَرْدَىٰكُمْ فَأَصْبَحْتُم مِّنَ ٱلْخَـٰسِرِينَ◯ فَإِن يَصْبِرُوا۟ فَٱلنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ۖ وَإِن يَسْتَعْتِبُوا۟ فَمَا هُم مِّنَ ٱلْمُعْتَبِينَ◯ ) [فصلت: ۱۹-۲۴]

«او یاد کړه هغه ورځ چې د الله دښمنان به اور ته راجمع کولی شي، نو دوی به ډلې کړل شي(۱۹) تردې چې کله دوی ته څنګه راشي، نو په دوی باندې به ددوی غوږونه او ددوی سترګې اوددوی څرمنې ګواهي ورکړي، د هغو کارونو چې دو به کول(۲۰) او دوی به خپلو څرمنو ته ووایي: تاسو ولې پر موږ ګواهي ورکړه؟ نو دغه څرمنې به ووایي: موږ هغه الله ګویا کړو چې هر شی یې ګویا کړی دی. او دغه الله تاسو اول ځلې پیدا کړي یئ او خاص همده ته به بیرته ورګرځولی شئ(۲۱) او تاسو به د ګناه د کولو په وخت کې ځان له دې څخه نه پټولو چې په تاسو به ستاسې غوږونه او ستاسو سترګې او ستاسو څرمنې ګواهي ورکړي او لیکن تاسو به دا خیال کاوه چې بیشکه الله په ډیرو هغو کارونو نه عالم کیږي چې تاسې یې

کوئ(۲۲) او دغه ستاسو هغه خراب ګمان دی چې تاسو به په خپل رب دغه ګمان کاوه، دغه تاسو هلاک کړئ، نو له تاوانیانو څخه شوئ(۲۳) نو که صبر وکړي، نو ددوی ځای اور دی او که دوی دالله رضا کول او دنیا ته تلل غواړي، نو دوی له قبول کړی شویو څخه نه دي(۲۴)»

له داسې حالت څخه الله تعالی ته پناه وړو...

الله تعالی زناکارو ښځو او سړو ته په دې دنیا کې هم د سخت انجام امر کړی دی، حتی که ځوان او مجرد وي... او د هغوی په حق کې یې له نرمۍ څخه منع کړې ده او امر یې کړی دی چې د زنا د حد جاري کول باید د خلکو په حضور ترسره شي.

خدای تعالی فرمایي: (ٱلزَّانِيَةُ وَٱلزَّانِي فَٱجۡلِدُواْ كُلَّ وَٰحِدٖ مِّنۡهُمَا مِاْئَةَ جَلۡدَةٖۖ وَلَا تَأۡخُذۡكُم بِهِمَا رَأۡفَةٞ فِي دِينِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۖ وَلۡيَشۡهَدۡ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٞ مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ) [النور:۲]

« هغه ښځه او سړی چې زنا یې کړې وي نو تاسو په دغو دواړو کې هر یو سل درې ووهئ او تاسو دې د الله په دین کې په دغو باندې زړه سوی ونه نیسي، که ئ تاسو چې په الله تعالی او په ورځ د آخرت ایمان لرئ او ددې دواړو سزا ته دې د مومنانو یوه ډله حاضره وي(۲)»

دا له هغه انجام او عاقبت څخه جلا دی چې زناکار ته په دې دنیا کې رسیږي، لکه ده ته د فقر رسیدل او په بلاوو او ښکاره سختیو د هغه اخته کیدل او ورته د کارونو سختیدل... او دا په هغه ښیرا کې هم نه شاملیږي چې صالحان یې ده ته کوي... هغه لاسونه څومره زیات دي چې د شپې په تیاره کې د آسمان لوري ته پورته کیږي او هغه ته ښیراوې کوي...

هغه تندي څومره زیات دي چې د خدای تعالی په وړاندې سجدې ته ځي او هغه ته د الله تعالی څخه عذاب غواړي...

او څومره سترګې چې له اوښکو څخه ډکې دي او هغه ښیراوې چې آسمان ته پورته کیږي او له خدای تعالی څخه په مفسدینو باندې د هغه د قهر د نازلیدوغوښتنه کوي...

نو څنګه یو عاقل انسان کولی شي دداسې یوڅه څخه خوند واخلي چې انجام او آخر یې په دې ډول وي او په داسې شهوت باندې خپل زړه وتړي چې انجام یې داسې وي؟

نجونو او هلکانو؛ داد زنا عاقبت په دنیا کې دی...

او د زنا د لارې پیل یوازې یو ګام دی او یو نظر او یوه خندا... او بې حجابي او ځان ښکارونه...

ځینې نجونې چې کله په بازار یا کوڅه کې په لاره روانې وي داسې قدمونه اخلي ته به وایې چې خلکو ته د فحشا د دعوت کولو په حالت کې دي، که داسې نه وي نو دداسې نجونو دا ډول کارونو ته څنګه تفسیر ورکوئ؟

ځینې یې په خپلو لباسونو ځانونه ښکاره کوي او د لاسونو ورغوي او پښې۔ او کله هم خپل مخ ښکاره کوي[2] او ځینې وخت لدې هم زیات... د هغې عطر وهل څنګه توجیه کوئ؟ په

[2] پام مو وي چې دعلماوو په ډله ییز مذهب کې د لاسونو او څهرې پټول په ښځو باندې واجب دي. یوه بله ډله د مخ او لاسونو ښکاره کول په هغه صورت کې چې آرایش یې نه وي کړی جایز بولي. لیکونکی د لومړۍ ډلې په مذهب دی. (ژباړونکی)

داسې حال کې چې د نارینه په منځ کې حرکت کوي او هغوی ددې بوی حس کوي؟ او رسول الله (ص) فرمايي: « هره ښځه چې عطر يې ووهل او وروسته د یوې ډلې لخوا سره تیره شوه او هغوی د هغې بوی حس کړ نو دا ښځه زناکاره ده.»

او د هغې په خپلو لباسونو ځان ښکارونه څنګه بیانوئ؟ ددې سریره له سرېو سره په خبرو کې بې پروايي او په ناز او ادا ګامونه اخیستل... الله تعالی فرمايي:

(يَٰنِسَآءَ ٱلنَّبِيِّ لَسۡتُنَّ كَأَحَدٖ مِّنَ ٱلنِّسَآءِ إِنِ ٱتَّقَيۡتُنَّ فَلَا تَخۡضَعۡنَ بِٱلۡقَوۡلِ فَيَطۡمَعَ ٱلَّذِي فِي قَلۡبِهِۦ مَرَضٞ وَقُلۡنَ قَوۡلٗا مَّعۡرُوفٗا ◯ وَقَرۡنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجۡنَ تَبَرُّجَ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِ ٱلۡأُولَىٰۖ وَأَقِمۡنَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتِينَ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَطِعۡنَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓۚ) [الاحزاب ۳۲-۳۳]

«نو تاسو په وینا کې نرمي مه کوئ، (ګنې) نو هغه کس به په طمع کې پریوځي چې د هغه په زړه کې ( د نفاق یا بدکارۍ) مرض وي او تاسو هغه خبره کوئ چې مناسبه وي(۳۲) او تاسو په خپلو کورونو کې قرار ونیسئ او تاسو د ړومبني جاهلیت د زينت څرګندونې په شان زينت مه څرګندوئ. او تاسو لمونځ قایموئ او زکات ادا کوئ او د الله او د هغه د رسول اطاعت کوئ.(۳۳)»

سړی حیران پاتې کېږي که په دې باندې پوه شي چې مومنانو ته د الله تعالی ددې خبرې معنا څه ده چې فرمايي: « او خپلې پښې د په ځمکه باندې نه وهي ترڅو چې هغه زينت چې دوی پټ کړی دی ښکاره نشي...» دا په دې معنا ده چې هغه ښځه چې لوړ بوټونه يې په پښو دي خپله پښه د په ځمکه باندې نه وهي ترڅو يې نارینه د غږ په اوریدلو سره په فتنه کې ونه لویږي!

عجیبه ده...

که د لوړو بوټونو غږ حرام دی، نو د انجلۍ هغه کار چې په ساعتونو په موبایل کې له هلکانو سره خبرې کوي یا د خپلو زمزمو او خنداوو غږونه ترهغوی پورې رسوي او قصیدې وايي او ددوی په نامه د مينې لیکونه لیکي څنګه دی؟!

او همداسې هغه ځوانان چې خپل ځان ته تر پاملرنې او په بازارونو کې له دختربازۍ او نجونو تعقیبولو پرته بل کار نلري...

دا ټول له هغه شیانو څخه دي چې د مومنانو ترمنځ فحشا خپروي او الله تعالی داسې کسان چې دا ډول کارونه ترسره کوي داسې ترخپل تهدید لاندې راوستي دي:

( إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ ٱلۡفَٰحِشَةُ فِي ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ◯ ) [النور: ۱۹]

« بیشکه هغه کسان چې خوښوي چې په مومنانو کې فحاشي خپره شي، ددوی لپاره په دنیا او آخرت کې ډیر دردوونکی عذاب دی، او الله پوهیږي او تاسو نه پوهیږئ(۱۹)»

داد هغه کسانو لپاره ګواښ دی چې یوازې په زړه کې غواړي د مومنانو ترمنځ فحشا خپره شي؛ ددې شیانو یوازې خوښول داسې یو دردناک عذاب له ځان سره لري، نو د هغه چا حالت چې په عمل کې د فحشا په خپرولو اخته دي به څنګه وي؟!

او یا ښایي مینه کوونکي نجونې او هلکان په داسې ګناه کې اخته شي چې ددوی د شهوت رفع کولو څخه لویه وي، یعنی داسې کار ترسره کړي چې د اسلامي عقیدې په خلاف وي، مثلا له کافرانو سره ځان ورته کول او د هغوی د اخترونو او ورځو جشن نیول او پکې ګډون کول چې د هغوی دیني ارزښتونه دي لکه د مینو (عاشقانو) د ورځې یا ولنټاین لمانځل که په هرډول وي، د ډالیو لیږل او یا د عاشقانه لیکونو لیږل او یا نورې لارې...

که یوه مسلمانه نجلۍ یا هلک چې صلیب یې په غاړه کړی دی او یا یې د داوود ستوری په خپل ځان باسلی دی ووینو دا کار یې حتما تیروتنه او عیب شمیرو...

خو دا کار د هغه چا له کار سره چې د مینو (عاشقانو) ورځ یا د کشیش (ولنټاین) ورځ لمانځي ډیر توپیر نه لري، ځکه دواړو د کافرانو یو مظهر را ژوندی کړی دی...

هرڅوک چې دعوه کوي چې یوازې د ملګرتیا یا ساعت تیرۍ لپاره د مخالف جنس سره خبرې کوي په ګناه کې واقع شوی دی، ځکه الله تعالی د مومنو ښځو په باره کې فرمايي:

(مُحْصَنَٰتٍ غَيْرَ مُسَٰفِحَٰتٍ وَلَا مُتَّخِذَٰتِ أَخْدَانٍ ۚ) [النساء: ۲۵]

« په دې شرط چې پاکلمنې وي، بدکارې نه وي او نه پټ یاران نیوونکې وي»

(مُحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَٰفِحِينَ وَلَا مُتَّخِذِىٓ أَخْدَانٍ) [ المائده: ۵]

« په داسې حال کې چې تاسې عفت غوښتونکي یئ، بدکاري کوونکي نه یئ او نه په پټه سره یاران نیوونکي یئ.»

هو، دا د بدکارانو او فاسقانو حال دی...

خو پاکلمنو خلکو؛ هغه کسانو چې د حرامو د لیدلو څخه خپلې سترګې او نظرونه ساتلې دي... په هغوی د زیری وي...

ځکه که هر چا خپله ژبه او شرمګاه وساتله جنت ته داخلیږي...

همدارنګه رسول الله (ﷺ) په ځانګړي ډول ښځو ته زیری ورکړی دی او فرمايلي یې دي:

« هرې ښځې چې د خپل پروردګار لپاره تقوا غوره کړه او خپله شرمګاه یې له حرامو څخه وساتله او د خپل خاوند څخه یې پیروي وکړه؛ هغې ته به د قیامت په ورځ وویل شي: له هرې یوې دروازې چې ستا خوښه وي جنت ته داخله شه»

خو پاکلمنې ښځینه او نارینه د پاکلمنۍ خپل داستانونه او رازونه لري...

له دوی نه یو یې د فتنې سره د مخامخ کیدو په وخت کې داسې چیغه وکړه:

په الله سوګند که ماته وویل شي چې فلانۍ فحشا ترسره کړه او په بدل کې یې زموږ دنیا او په هغې کې چې هرڅه دي تا ته درکوو ورته وبه وایم: هیڅکله نه! قسم په هغه چا چې زه یې له مجازات څخه ډاریږم، حتی ددې په څو برابره یې به یې هم ترسره نکړم.

دوی هغه ډله خلک دي چې د الله تعالی له حرامو څخه یې د پاکۍ اظهار کړی دی او الله تعالی هم د هغې په بدل کې له دوی څخه سختۍ او مصیبتونه لرې کړي دي او دعاوې یې قبولې شوې دي...

د پیغمبر (ﷺ) هغه حدیث چې په هغې کې یې ددرې کسانو داستانونه وړاندې کړي دي، له تاسې څخه پټ نه دی...

هو؛ دلته ده چې ریښتوني بنده الله تعالی ته خپل ځان ښکاره کوي او په هغه باندې ډار خوریږي او الله تعالی ته د هغه بنده ارزښت ډیریږي.

په هغه چا د زیری وي چې خپل ځانونه یې له حرامو څخه پاک ساتلي دي او د قیامت په ورځ د الله تعالی د عرش سیوري ته نږدې شوي دي... څکه په هغه ورځ چې سیوری نه وي یو له هغه کسانو څخه چې الله تعالی به یې خپل سیوري ته رابولي هغه کس دی چې د منصب او ښایست درلودونکې ښځه هغه حرامو ته راوبولي او دی ووایي: زه له الله څخه ډاریږم...

دا یوازې د نارینه وو لپاره نده، بلکې هغه ښځې ته چې فحشاء ښه ښکاره کړل شي او هغه یې د الله تعالی له ویرې څخه پریږدي، هغه به هم د آخرت په ورځ د څښتن تعالی د عرش له سیوري څخه برخمنه وي.

وایي چې یوه ښځې خپل ځان د یو نیک شخص خواته نږدې کړ... نو یې نفس داسې وسوسه ورواچوله چې د فحشاء عمل ترسره کړي او وروسته بیا توبه وکړي؛ د هغې سره نژدې یو چراغ لګیدلی و...

له ځان سره یې وویل: ای نفسه! خپلې ګوتې په دغه چراغ کې د ننه کوم؛ که په دغه اور د صبر وکړای شو هر څه چې ته یې غواړې نو ترسره به یې کړم...

وروسته یې لاس د اور په لمبه باندې کیښود له ګرمیدو وروسته یې لاس وسوځید نو یې وویل: ای نفسه! ودې نه شو کولی چې په دې ګرمۍ باندې چې ددوزخ له اور څخه ۷۰ ځلې آسانه ده صبر وکړې، نو څنګه به د الله تعالی عذاب وزغملی شې؟!

هو...

هغه ګناهکاران څومره زیات وو چې د بدکاره ښځو څخه یې خوندونه اخیستل

وروسته دوی خپله لاړل او ښځې یې پریښودلې او په عذاب باندې اخته شول

د ګناهونو خوند ځي او پای ته رسیږي

خو د هغوی عاقبت هماغسې پاتې کیږي

دا څه ډول رسوایي ده چې الله تعالی لیدونکی او اوریدونکی وي

او بنده د الله تعالی د سترګو په وړاندې په ګناهونو اخته کیږي

د قاهرې امیر، شجاع الدین شرزي وایي:

زه د مصر-له یو سپین ږیري سره وم... غنم رنګه څیره یې درلوده؛ یو ناڅاپه یې زامن ده ته راغلل چې ښکلي او د ډیر سپین رنګ درلودونکي وو... له هغه څخه مې ددوی په هکله وپوښتل. وې ویل: مور یې فرنګۍ ده او دهغې سره اوږد داستان لرم. له ده څخه مې د هغې په هکله وپوښتل... وې ویل:

کله چې ځوان وم نو شام ته لاړم... په هغه وخت کې شام د صلیبیانو په اشغال کې و؛ یوه مغازه مې پرانیسته او په هغه کې به مې کتان خرڅاوه... په داسې حال کې چې زه په خپل دوکان کې وم د صلیبیانو د قوماندانانو څخه د یوه ښځه ماته راغله او ښکلا یې په ما جادو وکړ... په هغې مې مال خرڅ کړ او ډیر تخفیف مې ورکړ...

هغه لاړه او له څو ورځو وروسته بیا راغله او بیا مې په تخفیف په هغې باندې مال خرڅ کړ... هغې په همدې ډول زما دوکان ته تګ راتګ کاوه او زه هم د هغې په لیدو خوشاله کیدم تر هغې چې په ځان وپوهیدم چې د هغې سره مې په زړه کې مینه پیدا شوې ده...

کله یې چې کار دې ځای ته ورسیده نو مې سپین سرې ښځې ته چې له هغې سره وه وویل: په فلانۍ مې خپل زړه بایللی دی، څنګه کولای شم چې هغې ته ورسیږم؟

وې ویل: هغه د فلاني سرلښکر ښځه ده او که زموږ په کار باندې خبر شي نو درې واړه به ووژني!

همداسې مې زړه ورسره تړلی و ترڅو چې یې له ما څخه پنځوس دیناره وغوښتل او وعده یې وکړه چې هغه ښځه به زما کور ته راولي...

هڅه مې وکړه ترڅو پورې مې پنځوس دیناره چمتو او هغې ته مې ورکړل...

په هغه شپه مې په کور کې ورته انتظار وکړ ترڅو پورې چې راغله... خوراک او څښاک مو وکړ...

کله چې د شپې یوه برخه تیره شوه له ځان سره مې وویل: له خدایه نه ډاریږې چې په غربت او مسافرۍ کې د خدای په حضور کې دیوې نصراني ښځې سره ګناه کوې؟!

نو هغه وخت مې آسمان ته سترګې پورته کړې او ومې ویل: اې خدایه شاهد اوسه چې ستا د تقوا او حیا په سبب مې له دې نصرانۍ ښځې څخه پاکلمني غوره کړه...

وروسته د هغې ښځې له ځای څخه لیرې شوم او په بل ځای کې ویده شوم... هغې چې دا ولیدل جګه شوه او د غوسې په حالت کې له کوره ووته...

سهار مې خپل دوکان ته ولاړم...

د غرمې په وخت کې هغه ښځه چې ناآرامه ښکاریده زما ددوکان ترڅنګ تیره شوه، څهره د ځلیدونکې میاشتې په څیر وه.

له ځان سره مې وویل: ته څوک یې چې دداسې ښکلا په وړاندې حیا غوره کړې؟ ته ابوبکر یې که عمر؟ یا عابد جنید یې؟ یا زاهد حسن بصري؟!

همداسې د افسوس خوړولو په حالت کې وم په همدې وخت کې مې بیا له څنګ څخه تیره شوه... ددې د لارې د ملګرې بوډۍ ترشا ولاړم او ورته مې ویل: هغې ته ووایه چې نن شپه راشي...

وې ویل: په مسیح سوګند خورم چې نه راځي مګر د سلو دینارو په بدل کې...

ومې ویل: سمه ده...

په ډیر تکلیف مې دا پیسې را ټولې کړې او هغې ته مې ورکړې...

د شپې ورته انتظار شوم ترڅو چې راغله... لکه سپوږمۍ چې ماته راغلې وي... کله چې یوځای کیناستو نو بیا د الله تعالی ډار زړه ته راپریوت... ځنګه مې کولای شو چې له یوې کافرې سره، د هغه له ذات څخه نافرماني وکړم؟ نو د الله تعالی له ډاره مې پریښوده...

سهار وختي دوکان ته لاړم په داسې حال کې چې په زړه کې مې هغه راګرځیدله...

د غرمې په مهال هغه ښځه بیا په داسې حال کې چې غوسه وه زما د دوکان ترڅنګ تیره شوه...

بیا مې چې ولیدله نو خپل ځان مې د هغې په پریښودلو باندې ملامت کړ او همداسې د افسوس په حالت کې وم... بیا مې هغې بوډۍ ته وړاندیز وکړ چې هغه ماته راولي.

وې ویل: نه کیږي مګر په پنځه سوه درهمه، او یا خو یې په پښیمانۍ او افسوس کې مړ شه!

ومې ویل: سمه ده... او د دوکان او مال خرڅولو تکل مې وکړ ترڅو پنځه سوه درهمه هغې ته ورکړم...

په همدې حال کې د صلیبیانو جارچي په بازار کې غږ وکړ: اې مسلمانانو؛ زموږ او ستاسې ترمنځ اوربند پای ته رسیدلی دی او ټولو مسلمانو تجارانو ته یوه اونۍ وخت ورکوو چې له دې ځایه ووزي..

پاتې مال او کالي مې راټول کړل او په داسې حال کې چې زړه مې له افسوس څخه ډک و له شام څخه راغلم...

وروسته مې د وینځو په سوداګرۍ باندې پیل وکړ ترڅو مې د هغې مینه له زړه ووزي...

درې کاله تیر شول، بیا د حطین جنګ وشو او مسلمانانو د ساحل ټولې ځمکې له صلیبیانو څخه بیا ونیولې...

زما څخه یې د ملک ناصر لپاره وینځه وغوښتله... یوه ښکلې خدمتکاره (وینځه) راسره وه چې هغه یې له ما څخه په سل دیناره راونیوله نوي دیناره یې راکړل او لس نور یې پاتې شول...

پاچا وویل: دی هغه کور ته چې د صلیبیانو میرمنې پکې بندې دي ورولۍ او د هغوی څخه د یوه د لس دینارو په بدل کې انتخاب کړي.

کله چې یې د کور دروازه ماته پرانیسته هغه انګریزه ښځه مې ولیده او له ځان سره مې بوتله...

کله چې مې کور ته ورسیدم هغې ته مې وویل: ما پیژنې؟

وې ویل: نه.

ومې ویل: زه ستا هماغه تاجر ملګری یم چې له ما دې یو سل او پنځوس دیناره واخیستل او بیا دې وویل: له پنځه سوه دینارو څخه پرته به ماته ونه رسیږې! اوس زه په لس دیناره ستا څښتن شوم!

وېي ويـل: اشـهد ان لا الـه الا الله و اشـهد ان محمـد رسـول الله... اسـلام يې راوړ او اسـلام يې نيکمرغه شو او واده مې ورسره وکړ...

لـه څـه مـودې وروسـته يې مـور يـو صـندوق ورتـه راولـيږه؛ کلـه مـو چې پرانيسـت د دينـارو دواړه کڅـوړې چې مـا هـغې تـه ورکـړې وې پـه صـندوق کې وموندې... پـه لـومړۍ کې پنځـوس دينـاره او پـه دوهمـه کې سل دينـاره... همدارنګـه هغـه جامې چې پـه هـغې کې بـه مې تـل ليدلـه پـه صـندوق کې پرتې وې... هغه اوس ددې بچيانو مور ده او دا ډوډۍ هم هغې چمتو کړې ده!

هـو... هرڅـوک چې د الله تعـالی لپـاره يـو څـه پريـږدي خـدای تعـالی پـه بـدل کې لـه هغـه څخـه ښوځله غوره بيرته ورکوي...

دا د پاکلمنو دداستانونو يوه ځنډه وه...

دا ډله په څو لاملونو سره داسې پاکلمنې شوې ده...

ترټولـو لـوی او قـوي لامـل يې د الله تعـالی درنـاوی او پـه ښـکاره او پټـه هغـه خپـل سـاتونکی بلـل او له هغه څخه ډار دی، ځکه هغه ذات دوی ته ددې ځواک، اوريدل او ليدل ورکړي دي...

ځکـه بنـده کـولای شي خپـل ځـان لـه خلکـو پـټ وګـني خـو څنګـه بـه وکـولای شي چې لـه الله تعالی څخه خپل ځان پټ کړي په داسې حال کې چې الله تعالی له هغه سره دی؟

د پـاکلمنې ښـځې لپـاره هـم دا امکـان نلـري چې د حيـا پـرده پـرې کـړي او ممکنـه نـده چې خپـل ناموس ناپاکه کړي حتی که يې دا د ژوند په بيه هم تماميږي...

خطـاب پـه خپـل کتـاب « د آسمان عـدالت» کې نقـل کـوي چې تقريبا څلويښـت کالـه مخکې پـه بغـداد کې يـو قصـاب و چې د غـوښې پـه خرڅولـو سره يې خپلـه ګـذاره کولـه... هغـه د لمـر تـر راختـو مخکې خپل دوکان تـه ځـان رسـاوه او پسـونه بـه يې حلالـول بيا بيرتـه خپـل کورتـه راسـتنيده او د لمر تر ختلو وروسته به بيرته دوکان ته تللو او غوښه به يې خرڅوله...

يـوه شـپه وروسـته لـه دې چې پسـه يې حـلال کـړی و، بيرتـه د کـور خواتـه پـداسې حـال کې چې جـامې يې پـه وينـو ککـړې وې روان و... پـه همـدې وخـت کې يې لـه يـوې تيـاره کـوڅې څخـه چـيغې واوريـدې... پـه ډيـرې چـټکې سره هـغې خواتـه ورغـۍ او يـو ناڅاپـه يې د يـو سړي پـه جسـد سـترګې ولګيـدې چې د چـاقو څـو ګوزارونـه يې خـوړلي وو او ويـنې ترينـه روانې وې او يـو چـاقو يې هـم پـه بدن کې ښکاره کيده...

چـاقو يې د هغـه لـه بـدن څخـه راوويسـت پـه داسې حـال کې چې د سړي لـه بـدن څخـه ويـنې روانې وې کوښـښ يې وکـړ چې لـه هغـه سره مرسـته وکـړي خـو هغـه سړي پـه همـدې حالـت کې سـاه ورکړه...

خلـک راټـول شـول او وېي ليـدل چې چـاقو د قصـاب پـه لاس کې دی او جـامې يې هـم پـه وينـو ککړې دي او خپله هم ډار شوی ښکاره کيده...

هغه يې د هغه بل سړي په قتل باندې تورن کړ او وروسته يې په مرګ باندې محکوم کړ...

کله يې چې هغه د قصاص میدان ته راووست او ډاډه شو چې مرګ يې حتمي دی نو په لوړ غږ يې وويل:

اې خلکو، په الله سوګند چې ما دغه سړی ندی وژلی، خو شل کاله مخکې مې يو بل څوک وژلی دی او اوس د هماغه قتل حد په ما جاري کيږي...

وروسته يې وويل: زه شل کاله مخکې يو قوي ځوان وم او په يوه کښتۍ کې مې د سيند له يوې غاړې څخه بلې غاړې ته خلک رسول...

يوه ورځ يوه شتمنه نجلۍ د خپلې مور سره زما په کښتۍ کې سپاره شول او هغه مې هغې بلې غاړې ته ورسول...

دوهمه ورځ هم راغلل او زما په کښتۍ کې سپاره شول...

د ورځو په تيريدو سره مې په هغه نجلۍ باندې خپل زړه بايلود او هغې هم په ما باندې...

د هغې پلار ته مې بلنه وليږله خو ځرنګه چې زه غريب وم ويې نه منله...

وروسته يې له ما سره اړيکې پرې شوې او بيا مې هغه او د هغې مور ونه ليدلې...

زما زړه همداسې د هغې په اسارت کې و...

د دوه يا درې کلونو له تيريدو څخه وروسته...

زه په خپله کښتۍ کې مسافرو ته انتظار وم چې يوه ښځه د خپل ماشوم سره په بيړۍ کې کيناسته او له ما څخه يې غوښتنه وکړه ترڅو دوی د سيند هغې بلې غاړې ته ورسوم...

کله چې په بيړۍ کې کيناسته او د سيند منځ ته ورسيدو هغې ته مې وکتل او ناڅاپه مې فکر شو چې هماغه نجلۍ ده چې پلار يې زموږ په منځ کې د بيلتون سبب شو...

د هغې له ليدو څخه ډير خوشاله شوم او تير وختونه او مينه او زړه بايلودل مې هغې ته ور په ياد کړل...

خو هغې په ادب او وقار سره خبرې وکړې او ويې ويل چې اوس يې واده کړی او دا ماشوم يې زوی دی...

خو شيطان ماته په هغې باندې تيری ښه ښکاره کړ... هغې ته نږدې شوم، خو نارې يې کړې او الله تعالی يې را ته ياد کړ...

چيغو ته مې يې اهميت ورنکړ... د هغې ب چې هرڅه په توان کې وو زما د ليرې کولو لپاره يې ترسره کړل په داسې حال کې چې خپل زوی يې په غيږ کې نيولی و او ژړل يې...

دا مې چې وليدل ماشوم مې راواخيست او اوبو ته مې نژدې کړ او ومې ويل:

که ته خپل ځان ماته په واک کې رانکړې دا ماشوم به ډوب کړم... خو هغې ژړل او زارۍ يې کولې... خو ما يې زاريو ته پام ونکړ...

بيا مې د ماشوم سر اوبو ته دننه کړ کله به چې مرګ ته نژدې کيده سر به مې يې له اوبو څخه راپورته کاوه... هغې به دا ليدل او ژړل يې او زارۍ يې کولې خو زما غوښتنه يې نه منله... بيا مې

دي ماشـوم سر اوبـو تـه د ننـه کـړ او د هغـه د سـاه کښـلو مخـه مې ونیولـه او مـور یې دغـه حالـت لیـده او خـپلې سـترګې بـه یې پټـولې... ماشـوم ډیـر سـخت پښې- او لاسـونه وهـل ترهغـه چې خپـل تـوان یې لـه لاسـه ورکـړ او لـه خوځیـدو ولویـد... هغـه مې لـه اوبـو څخـه راوویسـت او ومې لیـدل چې ساه یې ورکړې ده؛ نو جسد مې یې اوبو ته واچاوه...

د ښځې لـور تـه ورغلـم... پـه ټـول تـوان یې زه لـه خپـل ځـان څخـه لـیرې کـړم او ډیـر سـخت یې ژړل...

هغـه مې تـر ویښـتانو ونیولـه او اوبـو تـه مې ورنـژدې کـړه سرمې یې اوبـو تـه ورداخـل کـړ او بیرتـه مې راوویست، خو هغې د فحشا له منلو څخه انکار کاوه...

کلـه چې مې لاس سـترې شـول بیـا مې یې سر اوبـو تـه وردننـه کـړ... دومـره لاس او پښې- یې ووهـلې څـو چې لـه حرکـت څخـه ولویـده او مـړه شـوه... وروسـته مې یې جسـد اوبـو تـه واچـاوه او بیرتـه راغلم...

هیڅـوک زمـا لـه دې تـیرې او جنایـت څخـه خـبر نشـول او پـاک او سـپیڅلی دی هغـه ذات چې وخت ورکوي خو پرېږدي یې نه...

خلکو دده د داستان په اوریدو سره وژړل... وروسته په هغه باندې حکم عملي شو...

( وَلَا تَحْسَبَنَّ ٱللَّهَ غَـٰفِلًا عَمَّا يَعْمَلُ ٱلظَّـٰلِمُونَ ۚ إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ ٱلْأَبْصَـٰرُ ۝ ) [ابراهیم: ۴۲]

« او تـه پـه الله بانـدې لـه سره (دا) ګمـان مـه کـوه چې هغـه غافلـه دی لـه هغـو کـارونو څخـه چې ظالمان یې کوي.»

ددې پـاکلمنې نجلـۍ داسـتان تـه ځـیر شئ... څنګـه یې خپـل زوی د هغې پـه مخـکې ووژل شـو او خپل ځان یې هم له لاسه ورکړ خو د خپل عزت او عفت په له لاسه ورکولو راضي نشوه...

خو دا حیاء او پاکلمنې چیرته او ددې زمانې د ځینو نجونو حالت چیرته...

ځینې دې تـه تیاریږي چې د یـوې تلیفـوني اړیـکې یـا یـوې شـیطاني ډالۍ پـه بـدل کې خپـل عـزت او عفت وپلوري او یا د یو فاسق او یا فاسق ته ورته انسان په خوږو خبرو باندې وغولیږي...

خو د هغې بلې دنیا خوندونو ته میل چې ډیر لوی لوی خوندونه هلته شتون لري...

د هغې تلپاتې نـړۍ پـه ښکلو حـورو کې فکـر کـول... څکـه هرڅـوک چې پـه دې دنیـا کې لـه هغـه شي څخـه خونـد واخـلي چې الله تعـالی حـرام کـړي دي پـه آخـرت کې بـه د هغـه څـیز لـه خونـد اخیسـتلو څخـه محـروم کـیږي... د خـدای رسـول (ﷺ) فرمـایي: « هرڅـوک چې (لـه نارینـه وو څخـه) پـه دې دنیـا کې لـه وریښـمو څخـه اسـتفاده وکـړي پـه هـغې دنیـا کې بـه یې لـه اغوسـتلو څخـه محـروم وي... او هرڅـوک چې پـه دې دنیـا کې شراب وڅښي- نـو پـه آخـرت کې بـه یې څښـلو تـه پرینښودل شي.»

پـه دې اسـاس دا امکـان نلـري چې یـو بنـده دې حـرام خوندونـه او د هـغې دنیـا ابـدي خوندونـه یوځای ترلاسه کړي...

نـو کـه څـوک لـه شرابـو او هغـه ښـځو چې ده تـه حـرامې دي او يـا تنکيـو ځوانـانو څخـه خونـد واخلي ددې دار شته چې په ابدي دنيا کې ترينه محروم شي.

پـه دې ډول کـه د هـر چـا نفس پـه جنـت او هغـه څـه چې هلتـه الله تعـالى ورتـه چمتـو کـړي دي وتړل شي ددې دنيا خوندونه به ورته کوچني او بې ارزښته شي...

همـداسې کـه نجلـۍ د جنـت او د هغـه د ښـکلاوو هيلـه لـه ځـان سره ولـري، پـه دې دنيـا کې بـه خپلـه لمـن ککـړه نکـړي... ځکـه ښـکلا، حسـن او جمـال پـه جنـت کې د مومنـو ښـځو لپـاره خپـل اوج ته رسيږي... مومنه ښځه به په جنت کې، ترټولو ښکلې، او ترټولو کامله ښځه وي...

هـو، ولې نـه؟! کلـه چې الله تعـالى هغـه حـورې چې نهـه شـپې يې پـه ويښـه تـيرې کـړې دي او د ورځې لخـوا يې روژه نيـولې ده داسې سـتايي، د خپـل ځـان پـه اړه څـه ګومـان کـوې؟ تـه اې مسـلمانې نجـلۍ چې شـپې د لـه خپـل پروردګـار سره يـوازې تـيرې کـړې دي... سـتا خـبرې بـه يې اوريدلې وي او ستا دعاوې به يې قبولې کړې وي؟

تـا چې د هغـه لپـاره ددې دنيـا خوندونـه پريښې- دي او د شـهوتونو څخـه د ځـان لـيرې سـاتلی دی؟

(وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَـٰتِ جَنَّـٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَـٰرُ خَـٰلِدِينَ فِيهَا وَمَسَـٰكِنَ طَيِّبَةً فِى جَنَّـٰتِ عَدْنٍ ۚ وَرِضْوَٰنٌ مِّنَ ٱللَّهِ أَكْبَرُ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ○) [التوبه: ٧٢]

« الله تعـالى لـه مومنـو سړيـو او مومنـو ښـځو سره دداسې جنتونـو وعـده کـړې ده چې د هغـو لـه لانـدې ويـالې بهـيږي، چې دوی بـه پـه هغـو کې هميشـه وي او دداسې پـاکيزه اوسـيدنځايونو چې د عـدن پـه جنتونـو کې بـه وي. او د الله لـه جانبـه رضـامندي ترټولـو لويـه ده، همدغـه ډيـره لويـه کاميابي ده»

نو ای هلکه او اې نجلۍ... خپل نفس د هغې دنيا په خوندونو پورې وتړه...

ابـن ابي الـدنيا او خطيـب د بغداد پـه تـاريخ کې لـه يزيـد رقاشي څخـه نقـل کـړی دی چې ويې ويـل: ماتـه ويـل شـوي دي چې پـه جنـت کې يـو نـور وځليـد او پـه جنـت کې داسې ځـای پـاتې نشـو چې پـه هغـه دا نـور نـه وي لګيـدلی... وويـل شـول: داد څـه شي نـور وو؟ وويـل شـول: دا هغـه حـوره وه چې د خپل خاوند په څيره کې يې وخندل!

الله تعالى فرمايي: ( أَفَرَءَيْتَ إِن مَّتَّعْنَـٰهُمْ سِنِينَ○ ثُمَّ جَآءَهُم مَّا كَانُوا۟ يُوعَدُونَ○ مَآ أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يُمَتَّعُونَ○ وَمَآ أَهْلَكْنَا مِن قَرْيَةٍ إِلَّا لَهَا مُنذِرُونَ○ ذِكْرَىٰ وَمَا كُنَّا ظَـٰلِمِينَ○ ) [الشعراء: ٢٠٥-٢٠٩]

« مګـر تـه نـه پـوهيږې کـه مـونږ دوی تـه څـو کالـه نفـع ورکـړو(٢٠٥) بيـا پـه دوی هغـه (عـذاب) راشي چې دوی سره بـه يې وعـده کـولی شـوه(٢٠٦) ددوی بـه هـيڅ پـه کـار رانشي- هغـه څـه چې دوی تـه بـه پـه هغـو سره نفـع ورکـولی شـوه(٢٠٧) او مـوږ هيڅکلـه يـو کلـی نـدی هـلاک کـړی مګـر د هغه لپاره ويروونکي وو(٢٠٨) د نصيحت کولو لپاره او موږ ظالمان نه وو(٢٠٩)»

داد مينـه کوونکـو هلکـانو او نجونـو لـومړنی حالـت دی چې خپـل مخـالف جـنس تـه متمايـل دي...

خــو د مینــه کوونکــو دوهــم ډول داسې کســان دي چې د انســاني فطــرت څخــه منحــرف شــوي دي...

ځوان، د خپل ځان په څیر په بل یو ځوان عاشق (مین) شوی او انجلۍ، د خپل جنس څخه په بله نجلۍ باندې مینه شوې ده...

دوی له لومړي ډول څخه ډیر منحرف او بې لاري دي...

الله تعـالی ددې ډلې داســتان پــه خپــل کې بیــان کــړی دی... او دا چې د دوی پیغمــبر هغــوی تــه وفرمایل:

( وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ أَتَأْتُونَ ٱلْفَـٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ ٱلْعَـٰلَمِينَ۝ ) [الاعراف: ۸۰]

« آیا تـاسې داسې یـو بـد کار کـوئ چې پـه مخلوقـاتو کې هـیڅ یـو کـس لـه تاسـو نـه هغـه (بـدکار) تـه رومبی شوی نه دی»

کلـه چې داسې فحشـا پیښـیږي ځمکـه نـردې وي چې لـه دوو خـواوو څخـه کـش کـړل او غرونـه لـه خپلو ځایونو څخه لیرې کړل شي...

خـدای تعالی پـه هـیڅ قـوم بانـدې خپـل تـول عذابونـه یـو ځـای نـدي نـازل کـړي لکـه د لـوط پـه قــوم چې یې نــازل کــړي دي... د ســترګو نــور یې ورڅخــه واخیســت... څــیرې یې ورتــورې کــړې... جبرئیـل (ع) تـه یې امـر وکـړ چې ددوی ښـارونه لـه ځمکې څخـه پورتـه کـړي او بیرتـه یې پـه ځمکـه بانـدې راوغورځـوي... وروسـته یې پـه هغـوی د سـجیل د تـیږو بـاران وکـړ... خـدای (ﷻ) د هغـوی د عذاب په اړه فرمایي:

(فَلَمَّا جَآءَ أَمْرُنَا جَعَلْنَا عَـٰلِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ مَّنضُودٍ۝) [هود: ۸۲]

«نـو کلـه چې زمـوږ حکم راغئ نـو مـونږ هغـه د هغـه (کلي) بـرنی اړخ د هغـه لانـدې اړخ وګرځـاوه او پر هغه مو دداسې کاڼو باران ووراوه چې له خټو جوړ په اور پخ شوی وو، لاندې باندې وو»

خـدای تعـالی پـه دې ډول هغـوی نـورو تـه نښـانه وګرځـول... او د متقیـانو لپـاره پنـد... او د ګناهکارانو لپاره عبرت...

په دې داستان کې، د هوښیارانو لپاره نښې نښانې دي...

د غفلت په حال کې عذاب او په داسې حالت کې چې ویده وو په هغوی باندې رانازل شو...

او هرڅه چې یې لاسته راوړي وو دوی ته یې ګټه ونکړه...

هو...

خوندونه پای ته ورسیدل او او پښیمانۍ په خپل ځای پاتې شولې او شهوتونه تیر شول...

لـږ خوندونـه یې واخیسـتل او ډیـر عذابونـه یې ولیـدل... او هغـه څـه چې پـاتې شـول یـو دردوونـکی عذاب و...

پښـیمانه شـول خـو پـه الله سـوګند چې پښـیماني ګټـه نلـري... د اوښـکو پـه ځـای ترینـه ویـنې راووتلې...

کـه هغـوی مـو لیـدلی چې اور بې خـیرې سـیځي او د خـولې او پـوزې څخـه یې بهـر تـه راوزي... پـه داسې حـال کې چې د اور پـه طبقـو کې بـه د ګرمـو اوبـو جامونـه څښي... او پـه مخونـو بـه کښـل کیږي او ورته به ویل کیږي: دهغه څه خوند وڅکئ چې ترسره کول به مو...

(ٱصۡلَوۡهَا فَٱصۡبِرُوٓاْ أَوۡ لَا تَصۡبِرُواْ سَوَآءٌ عَلَيۡكُمۡۖ إِنَّمَا تُجۡزَوۡنَ مَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ۝ ) [الطور: ۱۶]

« ورځئ، ده تـه ننـوځئ، نـو تاسـو صـبر وکـړئ، یـا صـبر مـه کـوئ، پـر تاسـو بانـدې دغـه (دواړه کارونـه) برابـر دي، بیشـکه همـدا خـبره ده چې تاسـو تـه د هغـو عملونـو بدلـه درکـولی شي چې تاسو به کول»

او دا عذاب له ظالمانو څخه لیرې نه دی... هو؛ دا د فاسقانو حال دی...

خـو ځیـنې ځوانـان پـه دې اړه بې پـروايي کـوي... حـتی کیـدای شي لـه هغـوی څخـه داسې کارونـه وشي چې فکر کوې نور کسان هم خپلې خواته رابولي...

هغـه ځوانـان ځـومره زیات دي چې پـه خپلـو حرکتونـو کې نـرمي لـري... خنـداګانې یې لـه نـاز او نخـرو څخـه ډکې دي... حـتی ددوی پـه لاره بانـدې تـګ او خـبرې کـول... دتنګـو جـامو اغوسـتلو او بـدن ښـکاره کولـو سریـره... او د خاصـو عطرونـو څخـه اسـتفاده او ځـیرې تـه ډیـر اهمیـت ورکـول او دخپلو ویښتانو په خاص ډول ښکلي کول...

کله ناکله دا ډول ظواهر په ځینو ښوونځیو او کوڅو کې په خپلو سترګو سره وینو...

ولې دا ځوانان داسې کوي؟

لکـه څنګـه چې ترمـذی تخـریج کـړی دی او پـه روغ سـند یې روایـت شـوی دی چې د الله تعـالی رسـول وفرمایـل: « ترټولـو کارونو چې پـه خپـل امـت کې یې پـه کولـو بانـدې ډاریـږم هغـه د لـوط د قوم کار دی.»

همـداسې لـه ابـن حبان څخـه پـه صـحیح سـند روایـت شـوی دی چې رسـول الله (ﷺ) وفرمایـل: « د خـدای (ﷻ) لعنـت دې پـه هغـه چـا بانـدې وي چې د لـوط د قـوم کـار تـرسره کـوي... د خـدای (ﷻ) لعنـت دې پـه هغـه چـا بانـدې وي چې د لـوط د قـوم کـار تـرسره کـوي... د خـدای (ﷻ) لعنـت دې په هغه چا باندې وي چې د لوط د قوم کار ترسره کوي...»

همـداراز د امـام احمـد پـه مسـند کې پـه صـحیح سـند سره روایـت شـوی دی چې پیغمـبر (ﷺ) وفرمایـل: « هرڅـوک مـو چې ولیـدل چې د لـوط (ع) د قـوم کـار تـرسره کـوي، فاعـل او مفعـول یې دواړه ووژنئ.»

خو صحابه وو به داسې کسان په اور کې سوزول..

ابـن عبـاس (رض) وايي: «څـوک چې د لـوط (ع) د قـوم کـار تـرسره کـوي پـه قـبر کې بـه د خـوګ پـه شکل مسخ کیږي...»

چـا چې پـه خپـل حـق کې زیاتی کـړی دی او پـه دې ګنـاه کې واقـع شـوی دی ډیـر ژر دې توبـه وکـړي او له خدای تعالی څخه د ښښنه وغواړي او دهغه ښښونکې په لور د بیرته وګرځي...

(قُلۡ يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ أَسۡرَفُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ لَا تَقۡنَطُواْ مِن رَّحۡمَةِ ٱللَّهِۚ) [الزمر: ۵۳]

« تـه دوی تـه ووایـه: ای زمـا هغـو بنـده ګانو چې پـه خپلـو ځـانونو يې زيـاتی کـړی دی! تاسـو د الله له رحمت نه مه نااميده کيږئ»

او پــه صــحيحينو کې د خــدای لــه رســول څخــه روايــت دی چې ويې فرمايــل: « الله تعــالی لــه تاسـو څخـه ډيـر د هغـه چـا پـه توبـه بانـدې خوشـاليږي چې لـه يـو مرګـوني ځـای څخـه راووزي او سـپرلي يې چې خـوراک او څښـاک هـم پکې دي ورسره وي... بيـا هغـه ترينـه ورکـه شي او پـه پلټلـو يې پيـل وکـړي ترهغـه چې مـرګ يې رانـږدې شي او بيـايې هـم پيـدا نکـړي... هغـه لـه ځـان سره وايي: پـه کـوم ځـای کې چې راغلـی وم همـاغې تـه بيرتـه ځـم ترڅـو هملتـه مـړ شم! بيـا هماغـه ځـای تـه لاړ شي او خــوب پــرې راځي، بيــا راپــاڅيږي او يــو ناڅاپــه ګــوري چې ســپرلي يې څنــګ تــه ولاړه او خــوراک او څښــاک هــم ورسره دی... نــو هغــه راونيسيـ او وايي: « ای خدايــه تــه زمــا بنــده يې او زه ستا پروردګارا! » او له ډيرې خوشالۍ څخه تيروتنه وکړي!

توبـه آسـانه ده او هغـه چـا تـه چې د فحشـا عمـل يې تـرسره کـړی وي لازمـه نـده چې ځـان معـرفي کـړي ترڅـو پـه هغـه بانـدې حـد جـاري کـړي... بلکـه دا بسـنه کـوي چې خپـل پروردګار تـه توبـه وکړي او خپل ځان د هغه په ستر او پرده کې وساتي...

او کـه د کـومې نجلـۍ تصـوير يـا فـيلم لـه چـا سره وي او د هغـه پـه واسـطه دا ګـواښي، دا د هغې د تـوبې مخـه نشيـ نيـولی... بلکې کـولی شي د عـالم او پـوه بـاوري چـا څخـه مرسـته وغـواړي او د هغــه شــخص ګواښــونو تــه تســليم نشيــ... حــتی کــه هغــه رســوا کــړي بيــا هــم د دنيــا رســوايي د آخرت له رسوايۍ څخه ډيره غوره ده...

دادي د مينې ډولونه...

بايـد لـه يـاده ونـه باسـو چې د مينې پـه اهـل کې يـوه ډلـه داسې کسـان دي چې خپـل ځـان ورتـه د مخلـوق سره د مينې پـه پرتلـه لـوړ شـکاري او ځانونـه يې د الله تعـالی مينې تـه وقـف کـړي دي... او يوازې له هغه سره مينه لري او هغه هم له دوی سره مينه لري...

ددوی رب ددوی پـه وړانـدې لـه خـپلې کـورنۍ، مـال او حـتی خپلـو ځـانونو څخـه زيـات قـدرمن دی... تـل يې سـهار وختـي هغـه تـه ځانونـه نـږدې کـړي دي او د ورځې لخـوا يې د هغـه لـه ډاره اوښکې تـوبې کـړي دي... د هغـه د ليـدلو شـوق لـري او زړونـه د هغـه د زيـاتې مينې څخـه ټوټـه ټوټه دي...

ای کاشکې ستا ديدن خوږ شي، ژوند پريرده چې تريخ وي

او ای کاشکې ته خوښ وې، نور دې خفه وي

او ای کاشکې زما او ستا اړيکه تل ودانه وي

او هغه څه چې زما او نورو ترمنځ دي وران...

که ستا مينه حاصله شي نور ټول کارونه آسانه دي

او هرڅه چې د ځمکې په سر دي، خاورې دي!

ځنګه امکان لري چې زړونه د هغه چا په یاد کې نه وي چې ژوند د هغه په نعمتونو سره تړلی دی... او خوراک او څښاک د هغه له مهربانۍ څخه دي... ناروغي او روغتیا د هغه په لاس دي... او مرګ د هغه په قضا او قدر پورې تړلی دی؟

نیکان هم شهوت لري... هو... هغوی هم شهوت لري... غریزې لري... خو نفسونه یې د ګناه ترسره کولو څخه پورته دي...

محمد بن سیرین وایي: « له ام عبدالله (میرمنې یې) پرته له هیڅ ښځې سره نه د خوب په حالت کې او نه هم په ویښه یوځای شوی یم... او کله ناکله چې یوه ښځه په خوب کې ووینم او هغه مې خوښه شي، ناځاپه مې زړه ته راشي چې هغه ماته حلاله نده، نو له هغې څخه سترګې واړوم! »

له دغې ډلې څخه واوسه ترڅو نیکمرغه شې... او پوه شه چې دنیا له یو ساعت څخه زیاته نده نو هغه په پیروۍ او اطاعت کې تیره کړه...

او په پای کې... مینو هلکانو او نجونو... ددې ناروغۍ درلمنه څه ده؟

درملنه یې آسانه ده... خو جدیت او پایښت ته اړتیا لري...

د درملنې پیل یې دادی چې په دې باندې ځان پوه کړې چې د سترګو د آزاد استعمالولو اجازه نلرې...

هو! داسې اجازه نلرې چې وګورم که ونه ګورم! بلکه ژر ترژره به خپلې سترګې ترینه را اړوې... ځکه الله تعالی د سترګو په خیانت او د سینې په رازونو باندې پوه دی... او د سترګو آزاد پریښودل د دوزخ یوه دروازه حسابیږي...

دوهم: د نفس په مقابله کې د ګناه پریښودلو لپاره مبارزه کول... او په هغې کې د نفس له فکر کولو څخه مخه نیول دي... همداسې د معشوقې هغه څیزونه چې د نه خوښیږي خپل یاد ته راوړه...

عبدالله بن مسعود فرمایي: « که چیرې ستاسو څخه د چا کومه ښځه خوښه شي د هغې ناخوښ شیان دې خپلې حافظې ته راوړي.»

یعنې ددې په هغه شیانو کې فکر وکړه چې نه دې خوښیږي... د خولې بدبویي یې او نورې ناپاکۍ چې په هغې کې دي او فکر وکړه که همدا معشوقه په جذام باندې اخته شي څومره به بدرنګه شي، او پدې پوه شه چې شیطان تاته خپله معشوقه ښکلې په نظر درولي حتی که بدرنګه هم وي...

وایي یو شاعر چې د بې بندوبارۍ او بدرنګۍ په اړه یې شعرونه ویل یوې ښځې ته داسې وویل:

په حلالو کې څومره بدرنګه یې او په حرامو کې څومره ښکلې!

ابن جوزي په خپل مواعظ کتاب کې لیکي چې یو فقیر ځوان په کوڅو کې سودا خرڅوله... یوه ورځ د یوه کور ترخنګ تیر شو... له کور څخه یوې ښځې خپل سر راپورته کړ او له هغه څخه یې کوم څه وغوښتل... وروسته یې له هغه وغوښتل چې کور ته دننه راشي ترڅو هغه

مال ووېني؛ چې کور ته د ننه شو هغې ښځې دروازه ټینګه کړه... وروسته يې هغه ته د فحشا د عمل وړاندیز وکړ... ځوان چيغې کړې... هغې ښځې وويل: په الله سوګند که دا کار چې زه يې غواړم ترسره نکړې نو زه به ناري او سورې ووهم کله چې خلک راشي ورته وبه وايم چې دا ځوان زما کور ته را اوښتی دی او بده اراده لري... نو هغه وخت به د زندان يا اعدام پرته بل څه په مخکې ونلرې!

هغه ځوان دا ښځه له خدای تعالی څخه وډاره کړه خو بند پاتې نشو... دا يې چې ولیدل هغې ته وويل: تشناب چيرته دی؟

تشناب ته چې ورد ننه شو په هغه ځای کې چې مرداري وه هغه يې راپورته کړه او په خپلو جامو او بدن يې واچوله... وروسته بهر ته راووت... کله چې ښځې په دې حالت کې ولید چيغې يې کړې او خپلې جامې يې د هغه په لور ګوزار کړې او د کور څخه يې وويست...

ځوان له هغه ځای څخه ولاړ او په کوڅو کې هلکانو په لوړ غږ ورته ويل: ليونی! ليونی!

کله چې کور ته ورسید مرداري يې پاکه کړه او حمام يې وکړ...

له هغې وروسته تل له هغه سره د مشکو بوی لګیده...

همدارنګه د درلمنې يوه بله لاره يې خدای تعالی ته مخ اړول او له نيکانو سره اړیکې جوړول او د قران کريم د تلاوت، وتر لمونځ او د ذکر د مجلسونو له لارې له الله تعالی سره اړیکه جوړول دي...

الله تعالی په قدسي حديث کې فرمايي: « همدارنګه مې بنده د نفل په ترسره کولو سره ماته خپل ځان نږدې کوي...»

او د معالجې له مهمو لارو څخه: له داسې شيانو څخه ځان ليرې ساتل دي چې تاته ګناهونه دريادوي... په دې بنسټ د ګناهکارو خلکو سره مه کینه او که داسې عکسونه له ځان سره لرې چې تاته ګناه دريادوي د هغوی له شره ځان خلاص کړه او ټول ليکونه او د سندرو کليپونو ته اور واچوه...

د درملنې بله لاره يې دداسې ځايونو څخه ځان لرې ساتل دي چې هلته ښځې او نارینه مختلط وي... هغه که بازارونه، پوهنتونونه او يا نور ځايونه وي... او د هغه کسانو له ډلې څخه مه کيږه چې خپل دين د دنيا په بې ارزښته شيانو باندې معامله کوي...

همدارنګه: د جنسي- تحريک کوونکو شيانو څخه لکه: فلمونو، عکسونو، داستانونو او ناولونو څخه ځان ساتل...

همداسې په هر حالت کې د الله تعالی ذکر ته دوام ورکول... سهار، بيګاه او د خوب په وخت کې...

همداسې: د معشوق له ځای څخه ليرې والی او لرې ځای ته سفر کول... څکه هغه څه چې له سترګو پناه شي د زړه هم له ياده وځي... که معشوقه مو ټولګيواله يا همکاره وي د کار او تحصيل لپاره په بل ځای پسې- وګرځئ... او هرڅوک چې د الله تعالی تقوا ونيسي- الله تعالی به هغه ته د نجات لاره پرانيزي...

د درملنې نور ډولونه: په ګټورو کارونو سره وخت تیرول...

د درملــنې بلــه لاره یې واده دی... ځکــه واده د فطــرت ځخــه د ملاتــړ او د فضــیلت د خپرولــو لپاره شرعي لاره ده... او داسې مـه وایـه چې لـه فـلانۍ پرتـه بـل څـوک نـه غـواړم ځکـه پیغمـبر (ص) فرمـايي: « کـه سـتاسې ځخــه د چـا یـوه ښـځه خوښـه شي نـو د هـغې لـه خاونـد سره د پریـوزي ځکه هغه هم هماغه څه لري چې هغه [ښځه] یې لري.»

دلتـه بایـد یـوې مهـمې مسـئلې تـه اشاره وکـړم او هغـه د ښـځې یـا میړه د یـو بـل پـه حـق کې غفلـت او بې پروايي ده او په احساسي او عاطفي مسایلو کې ګډون نه کول دي...

هغـه څـه چې د ژونـد ملګری/ملګـرې یې بیـا پـه بـل ځـای کې د هـغې تشې- پـه ډکولـو پسې- ګـرځي... سړی پـه داسې چـا پسې- ګـرځي ترڅـو یې عـاطفي تشـه ډکـه کـړي او ښـځه هـم پـه داسې چـا تـه چې له هغې سره ښه چلند وکړي او له هغې سره په نرمه ژبه خبرې وکړي متمایله کیږي...

همداسې له  ډاکټر ځخه زنا ته د میل یا همجنس ګرایۍ په اړه مرسته غوښتل بده نده...

په دې توګه له اوس ځخه یو نوی ژوند پیل کړه...

مخـکې لـه دې چې قیامـت راشي، پـه داسې حـال کې چې د جهـنم اور بـل شـوی وي او ځنځیرونـه او غلـه چمتـو شـوي وي او د دوزخ سـاتونکي د فرمـان منتظـر وي... او تـه پـه داسې حـال کې چې ژړا کوې وايې به:

زه څنګه د شهوتونو او خوندونو په لټه کې وم؟

څواني، موټر، او ښکلو جامو ماته دوکه راکړه...

هغه وخت چې غم د زیات وي او خپل توان د له لاسه ورکړی وي

افسـوس کـه د قیامـت پـه ورځ د قدمونـه وښـویږي او د ژړا غـږ د پورتـه شي او پښـیماني د اوږده شي...

په الله سوګند که پوهیدلی چې څه عملونه د شاته پریښي دي هیڅ وخت به دې نه خندل او اوښکې به دتویولې...

جنت په سختیو پوښل شوی دی او اور په هغه خوندونو چې د نفس خوښیږي...

کـه سـتا ځخـه کـوم بـد کار وشي، ښـنه وغـواړه او پـه هغـه کـور کې چې ښـنه منـل کـیږي هـم هلتـه له الله تعالی ځخه ښنه وغواړه...

او ژر الله تعــالی تــه ریښــتینې توبــه وکــړه... مخــکې لــه دې چې حضــور تــه یې ورشې او روح د لــه بدن ځخه والوزي...

له خدایه غواړم چې زموږ مینه په خالصه توګه د خپل ځان لپاره حساب کړي او موږ له هرډول بدوالي او پټو او ښکاره فتنو څخه وساتي... او د هغه لپاره زموږ مینه له نورو ټولو مینو لوړه وګرځوي... او دده لپاره زموږ اطاعت له نورو ټولو اطاعتونو څخه غوره وګڼي او موږ په داسې خلکو کې وشمیري چې د حق له ښکاره کیدو وروسته ورڅخه ملاتړ کوي... آمین.

**د دوکتور محمد العریفي په قلم**